# د واده لومړۍ

# لس شپې

د اوږدې مناظرې وروسته ښځه وهابيت
پرېږدي او د خپل خاوند په مخکې د اهل
السنت والجماعت په ډله کې د داخليدو
اعلان کوي


زباړه
مولانا مفتي
فضل امين حقاني

ترتيب
محمد فهيم عاطف



مكتبة الحرم

د احسان الله سپینه ۱۳۹۹/۸/۴

# د وادہ لومړی لس شپې

(د اوږدې مناظرې وروسته شخه وهابیت پرېږدي او د خیل خاوند په مخکې د اهل السنت والجماعت په ډله کې د داخلیدو اعلان کوي)

ژباړه:

فضل امین اپریدی

ترتیب:

محمد فهیم عاطف

انلاین چاری: عزت الله سلطانزی

اړیکه 0706912702

## د کتاب پیژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د واده لومړۍ شپې |
| ژباړن | فضل امین اپریدی |
| برېښنايي کوونکی | عزت الله سلطانزی 0093706912702 |
| خپرندویه | مکتبة الحرم خپرندویه ټولنه ، پیښور، کابل |
| چاپکال | 2017 میلادي |
| چاپشمیر | ۱۰۰۰ ټوکه |

دا کتاب دباور کتابتون څخه ښکته شوی

https://Bawar.Net

دنور کتابونو لپاره د باور کتابتون له ویبپاڼې څخه لیدنه وکړۍ

FB:Ezatullah.sultanzai

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ


لومړۍ شپه ---------------------- ۱

دویمه شپه ---------------------- ۷

دریمه شپه ---------------------- ۱٦

څلورمه شپه ---------------------- ۲۸

پنځمه شپه ---------------------- ۳۸

شپږمه شپه ---------------------- ۴۹

اوومه شپه ---------------------- ۵۷

اتمه شپه ---------------------- ٦۴

نهمه شپه ---------------------- ۷۴

لسمه شپه ---------------------- ۸۰

ډېرو ارمانونو، محبتونو سره تړ شلو کلونو پورې
د يو جينۍ په انتظار کې يې د ژوند ورځې په
شمېر سره تېرې کړې، بيا يوه ورځ راغله چې د
هغوی خپلو کې واده وشو، چې کله يې جينۍ
واده کړه او کور ته يې راوسته او (په لومړۍ
شپه) کوټې ته داخل شو، لږ وخت هم نه و تېر
شوی چې... مخکې څه وشول؟ په دې رساله کې
يې په تفصيل سره مطالعه کړئ!!!

# لومړۍ شپه

د سهیل مور او پلار د خپل زوي واده په ډېرو ارمانونو سره وکړو، د نخترو د ونې په شان اوږده او د کوترې په شان سپینه ناوې یې کور ته راوسته، هر طرف ته د میلمنو تګ راتګ وو. په دېوالونو باندې رنګ رنګ چراغونه لګېدلي وو او د قسما قسم خوراکونو نه ښکلي بویونه پورته کېدل، چې د میلمنو او د ماشومانو لوږه یې راپاروله.

په دې رنګنیو او خوشالیو کې د شپې ناوخته سهیل او د هغه ناوې (ښځه) د پالنګ کوټې ته سترګې ښکته داخل شول. مخکې د دې نه چې د دوی خپلو کې خبرې اترې شوې وی او د شلو کلونو نه پټ محبت څرګند شوی وی، سهیل شکرانه ادا کولو لپاره په جاینماز ودرېدو، لاسونه یې تر غوږونو اوچت کړل او د نوم لاندې یې کېښودل، تلاوت یې پیل کړ. چې کله یې لمونځ پوره کړ او سلام یې وګرځولو، نو خپلې ناوې ورته په حیرانتیا سره وویل: د زړه سره! تا خو نفل وکړل خو رفع الیدین دې پکې ونکړل، د دې بغیر خو لمونځ نه کېږي؟

سهیل وویل: ما خو نفل (تهجد) وکړل او تا خو بالکل کړي نه

دي؟ ناوې خپل علمي دبدبې (رعب) جوړولو لپاره وويل: په ما گرانه! زموږ په كتابونو كې ليكلي دي، چې د ماسخوتن فرض لمونځ ادا كولو نه وروستو يو ركعت كولو سره وتر، تهجد او تراويح ټول ادا كېږي. په ما گرانه! تا ته علم شته چې بغير د رفع اليدينو نه لمونځ نه كېږي؟

سهيل وويل: ښځې! دا مسئله خو ماته معلومه نه ده، خو دومره خبره ده چې په ټوله دنيا كې زيات مسلمانان د رفع اليدينو نه بغير لمونځ كوي... نو ولې د هغو ټولو لمونځ نه كېږي؟

هو په ما گرانه! (د هغو ټولو لمونځ نه كېږي).

دې خبرې اورېدو سره د سهيل مخ تک شور شو... سهيل څه وخت خاموش شو... او بيا يې په كينه او غوسه كې وويل: د دې مقصد خو دا دی چې زما د مور او پلار لمونځ هم باطل دی (نه كېږي).

ناوې وويل: د زړه سره! رښتيا خبره ترخه لگېږي خو د رښتيا ويلو نه بغير گوزاره نه كېږي، ته خوشالېږې او كه خفه كېږې خبره همدغه ده، چې بغير د رفع الدينو نه لمونځ نه كېږي، نه كېږي.

سهيل په غوسه كې وويل: خبره په دليل سره كېږي، موږ د حنفي مسلک خلک يو، موږ په اصولو سره خبره كوو... زموږ علماوو په اصول حديث، اصول تفسير او اصول فقه كې بې شمېره كتابونه ليكلي دي، لكه اصول فقه كې اصول شاشي او نور الانوار او داسې نور...

د ټولو نه مخكې ته خپل د اصولو يو كتاب وښايه دې لپاره چې زه د هغې اصولو مطابق ستا نه ستا په دعوې باندې دليل وغواړم؟ دې خبرې سره د سهيل غوسه ختمه شوه.

ناوې په ډېره بې پرواهۍ سره وویل: زړګیه! موږ ته د اصولو لپاره د کوم کتاب ضرورت نشته، زموږ اصول خو په دېوالونو لیکل شوي دي، ته چې په کومه لاره هم تېرېږې، نو زموږ اصول به درته په دېواله لیکل شوي په لاس درځي.

ښه جي!!!

ستا اصول په دېوالونو لیکل شوي دي؟ په دېوالونو خو د فلمونو او د کاروباري خلکو د کاروبار اشتهارونه لګېدلي دي؟

په ما ګرانه! ته خبره غلط طرف ته وړې، ولې تا لیدلي نه دي چې هر ځای په دېوال لیکل شوي وي چې د اهل حدیثو دوه اصول: "اطیعوا الله و اطیعوا الرسول" د دې مقصد خو دا شو چې ته اهل حدیثه یې؟

هو جي! په ما ګرانه (زه اهل حدیثه یم)

سهیل وویل: علماوو خو تاسو ته بد مذهبه، بې مذهبه او غیر مقلد (خپلو خواهشاتو باندې عمل کوونکي) وایي.

ناوې وویل: علماء پرېږده (وایي دې کنه)

سهیل وویل: چې موږ علماء پرېږدو نو بیا موږ په دین باندې عمل کولای شو؟

ولې نه؟ (ناوې وویل)

هغه څنګه؟ (سهیل وویل)

(ناوې وویل) د ترجمې والا قرآن شریف او بخاري شریف را واخله (او په دې عمل کوه) عالم ته د تللو ضرورت نشته.

"افسوس" (د سهیل د خولې نه ووتل)... اوس پته ولګېده چې ته د کومو اهل حدیثو نه یې"

څه مطلب؟ (د ناوې د خولې نه ووتل)
سهې ووېل: مطلب دا دی چې دا اهل حدیثو یوه ډله هغه ده چې دوی ته په زړونو نه، بلکې دوی ته لکونو حدیثو شریفو متن، سند او د دې احادیثو شریفو په راویانو باندې د اسلافو جرح او تعدیل ژبنې یاد وي اوس ته ووایه: چې تا ته څو زره احادیث د محدثینو په شرایطو سره ژبني یاد دي؟
(ناوې ووېل): ماته د محدثینو په شرایطو باندې یو حدیث هم یاد نه دی.
اُف... د سهیل د خولې نه ووتل، اوس معلومه شوه چې ته د اهل حدیثو د دویمې ډلې نه یې.
څه مطلب؟ (ناوې ووېل)
سهیل ووېل: مطلب دا دی چې شیخ عبد القادر جیلاني رحمة الله علیه (چې کوم حنبلي مسلک والا دی) د خپلې زماني په مشهور کتاب "غنیة الطالبین" کې فرمایي: چې شیطان سهار وختي بسار ته څي خپله لکۍ په خپل مقعد کې ننباسي او اووه هګۍ واچوي د هرې هګۍ نه یو بچی راوځي، د هر یو بچي جلا نوم او جلا کار وي چې کوم بچی د دویمې هګۍ نه راووځي، د هغه نوم دی حدیث، (د کوم چې تاسو اولاد او بچیان یئ) د دې کار د لمونځ کوونکو په زړونو کې وسوسه اچول دي (لکه څنګه چې تا اوس زما زړه کې وسوسه واچوله، چې ستا لمونځ نه دی شوی)
ددې مطلب دا شوچې مور د شیطان بچیان یو، ناوې ووېل.
هو جي! (تاسو د شیطان بچیان یئ) د سهیل د خولې نه ووتل.
ناوې په خپله غوسه باندې قابو بیا موندله او موضوع یې بدله

کړه او ویې ویل، په ما گرانه! بې کاره بحث پرېږده زه به د قرآن او حدیث نه دا ثابته کړم چې د رفع الیدینو نه بغیر لمونځ نه کېږي.

بنه ناوې! د سهار آذان شوی دی، مخکې د دې نه چې د سهار لمونځ نه وروستو ستا یوه بله نوې فتوی جاري شي، سمدستي قرآن راواخله او د قرآن کریم نه دا ثابته کړه چې د رفع الدینو نه بغیر لمونځ نه کېږي؟

ناوې سر وګرولو او ویې ویل: په قرآن کریم کې خو دا مسئله چېرته هم نشته...

ولې نه؟ (سهیل وویل)

که د قرآن کریم زه دا ثابته کړم چې په لمونځ کې رفع الیدین نه دي کول پکار، نو بیا؟؟

نو بیا څه خو زه به یې ومنم (ناوې وویل)

معلومېږي خو نه (چې ته یې ومنې)

کېدای شي ستا د هدایت وخت راغلی وي، پاره لمبر اتلسمه کې دویم ایت "الذین هم في صلوتهم خاشعون" په تفسیر کې رئیس المفسرین حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمایي:

(لا یلتفتون یمیناً ولا شمالاً ولا یرفعون ایدیهم فی الصلوة)

ژباړه: الله تعالی فرمایي: چې هغه مؤمنان کامیاب شول، چې کوم په خپلو لمونځونو کې خشوع کوي.

حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمایي: چې د خشوع مطلب دا دی چې لمونځ کوونکی په لمونځ کې ښي او چپ طرف ته نه ګوري او نه په لمونځ کې رفع الیدین کوي.

واخله جي!! تا خو په خپله دعوی باندې دلیل پیش نه کړو، خو ما

درته د قرآن کریم نه دلیل درکړو.
اوس وایه! زموږ د اهل السنت والجماعت لمونځونه کېږي او که نه؟
ناوې د وېرې په حالت کې وویل: نه کېږي، نه کېږي، ځکه چې تا د صحابي قول او فتوی پیش کړه (او زموږ په مذهب کې د صحابي قول حجت نه ګرځي)...
څه؟ څه؟ د سهیل لاس د غوسې د وجې نه په اوچتېدو او وچتېدو کې ودریدو.... بیا داسې خبره د خولې نه ونباسې که بیا دې داسې خبره وکړه، ژبه به درنه غوڅوم او سپي ته به یې غورځوم.
مخکې د دې نه چې د دوی منځ کې خبره نوره زیاته شوې وی، د سهیل مور دروازه وټکوله... زویه! اوچت شه د لمونځ وخت دی، لمونځ وکړه سهیل دروازې خلاصولو سره مور ته وویل:
مورې! دا د کومې بد مذهبه سره دې زما واده کړی دی؟
نا زویه نا! څنګه د ګلاب په شان ناوې مې درته واده کړې ده.
خو په دې ګلاب باندې د جنت د تسنیمو (شرابو او عنبرینو اوبو) په ځای د دوزخ "ماء حمیم" (ګرمې اوبه) او د جنت د سلسبیلو پر ځای د کچر د متیازو څاڅکي او قطرې پرېوتي دي... ما ته خو د دې ګل نه د خوشبو امید او تمه نشته...
څه! شپې ته به نوره خبره کوو، اوس لمونځ نه وروستو به زه دفتر ته تیاری کوم... او بیا ولیمې (خوراک) ته واپس سمدستي راځم.

## دویمه شپه

د ماښام د وړۍ وخت کې د سهیل مور وویل: زویه! سهار مو په څه خبره باندې لانجه (جګړه) وه؟ موږ پرېږده یې زه به یې پخپله پوهه کړم که پوهه نه شوه نو بیا.... سهیل دا وویل او نور چپ شو.

نا زویه!

بیا به هیڅ هم نه کېږي، اوس خو دا نوې نوې ده په یو څو ورځو کې به ستاسو محبت او مینه زیاته شي او د یو بل په مزاج او طبیعت به پوهه شئ.

سهیل د ویمه شپه خونې ته داخل شو، تکیې سره یې ډډه ولګوله او وې ویل: ښه! ستا په نزد د صحابه وو اقوال حجت نه دي؟

نا! بالکل حجت نه دي...

ګوره! زموږ علماوو په ډېر وضاحت سره لیکلي دي (چې قول صحابي حجت نه دی):

(۱)- عرف الجاري کې دي... د صحابي قول حجت نه دی.

(۲)- نزل الابرار کې دي... د صحابي اجتهاد حجت نه دی.

(۳)- التاج الملکل کې لیکلي دي... د صحابي فعل حجت نه دی.

(دې نه علاوه نورو کتابونو کې همدغسې فتوې موجودې دي، لکه بدورالاهلة او فتاوی نذیریه او داسې نور....)
ښه د صحابي قول خو نه منې، د نبي علیه السلام قول منې که نه؟
ولې نه! د نبي علیه السلام په خبره باندې خو ځان قربانوم.
واه! څه خبره ده! الله تعالی دې ستا ایمان محفوظ کړي.
اوس واوره (سهیل وویل) د حضور صلی الله علیه وسلم ارشاداتو ته غوږ ونیسه...
(۱)- علیک بسنتي و سنة الخلفاء الراشدین (ترمذي).
(۲)- فاقتدوا بالذین من بعدي ابي بکر و عمر (ترمذي)
(۳)- اصحابي کالنجوم بایهم اقتدیتم اهتدیتم (مشکوة)
(۴)- کامیابه ډله به هغه وي، چې کونه د "ما انا علیه و صحابي" اتباع او تابعداري کوي. (ترمذي)
د نبي علیه السلام په دې احادیثو باندې ځان قربان کړه او د ابن عباس رضي الله عنهما تفسیر قبول کړه، د اهل السنت والجماعت خلاف فتوې دې واپس واخله، پخپله هم د رفع الیدینو نه بغیر لمونځ کوه او نورو خلکو ته هم د عوت ورکوه (د رفع الیدین نه کولو)
زموږ علم ډېر اوچت دی (ناوې وویل)
څه مطلب؟... د پیغمبر علیه السلام حدیث هم نه منې؟
ولې نه؟ خو موږ اهل حدیث هر یو حدیث نه منو.
انا لله و انا الیه راجعون هر حدیث رسول نه منې؟
یا الله تعالی! د کومې ډلې سره اخته شوی یم؟
موږ اهل حدیث یو، اهل حدیث!

(سهیل د ناوې خبره منځ کې کټ کړه او ویې ویل) ته خو ماته منکرِ حدیث معلومېږې، ستا مذهب خو د شیعه ګانو په شان دی په دې به وروستو خبره کوو، خو اوس دا ووایه چې ته کوم قسم حدیث منې؟

زموږ علماوو لیکلي دي، چې موږ د حضور علیه السلام صرف هغه احادیث منو، چې کوم حضور علیه السلام د وحي په ذریعه سره فرمایلي وي او کوم احادیث چې بغیر د وحي نه د خپل طرف نه فرمایلي وي هغه موږ نه منو.

(سهیل ناوې ته ووېل) په خپل ذهن باندې زور ورکړه او سوچ وکړه چې تا پرون شپه څه ویلي وو؟

څه مې ویلي وو؟ (ناوې ووېل)

تا پرون ویلي وو "چې علماء پرېږده" او نن په خبره خبره کې وایېچې زموږ علماوو دا فرمایلي دي، زموږ علماوو دا فرمایلي دي...

دا څه په فضولیاتو لګیا یې؟ چې مخکې دې ویل چې علماء پرېږده او اوس وایې چې علماوو ویلي دي؟

فضولیات نه دي، بلکې دا خو حقیقت دی چې موږ د علماوو نه بغیر یو قدم هم نشو اخیستی.

معلومېږي چې تا ته د خپلې مخکینۍ غلطۍ احساس وشو؟

هو جي! زما لومړۍ خبره غلطه وه زه په خپله غلطۍ باندې شرمنده یمه، اول د الله تعالی نه او بیا ستا نه معافي غواړم.

تا! هېڅ خبره نه ده، که چېرته موږ کې هر یو خپله غلطي ومني، نو موږ به ډېر زر خپل منزل مقصود ته ورسېږو.

مخکې د دې نه چې موږ خپلې موضوع ته را وګرځو ته د خپلې یوې بلې غلطۍ اعتراف هم وکړه، چې ته او ستاسو علماء هر حدیثِ رسول نه منئ، دا ستاسو لویه غلطي ده، ځکه چې الله تعالی فرمایي: "وما ینطق عن الهوی، ان هو الا وحی یوحی"
الله تعالی فرمایي: چې زما حبیب ته تر کومه چې وحي نه وي شوي، تر هغه یوه خبره هم نه کوي.
دې نه معلومه شوه چې د نبي علیه السلام هر حدیث منل پکار دي.
(ناوې وویل) ستا خبرې ډېرې با اثره او دلایلو نه ډکې دي، ظاهراً خو داسې معلومېږي چې تا دیني علم نه دی حاصل کړی، خو خبرې دې د علماوو نه هم ډېرې درنې او وزنې دي، زموږ مخکې خو څوک یو منټ خبره هم نشي کولای او ته د پرون شپې نه تر اوسه ماته سخت جوابونه راکوې او هر یو سوال او اعتراض زما ختموې؟
ناوې! ستا خبره صحیح ده، ځکه چې ما چېرته مدرسې کې علم نه دی حاصل کړی، خو... خو څه؟ (ناوې وویل)
(سهیل وویل)! مطلب او مقصد دا دی چې زما یو ملګری د وسپنې سوداګر دی هغه سره زما ناسته پاسته وي (د هغه نه دا خبرې ما زده کړي دي).
په سرو زرو د لیکلو حقدارې خبرې تاته د یو سوداګر نه په لاس درځي؟
هو جي! دا څه د حیرانتیا او تعجب خبره نه ده. داؤد علیه السلام د الله تعالی رسول و او د وسپنې نه به یې زغرې هم جوړولې، لکه

الله تعالی فرمايي: "و النا له الحديد".
ژباړه: موږ د داؤد عليه السلام لپاره وسپنه نرمه کړې وه.
او زموږ خوږ پيغمبر صلی الله عليه وسلم رسول هم و او هم سوداګر هم.
د دې مقصد خو دا شو چې ستا ملګری صرف سوداګر نه دی، بلکې غټ عالم دی؟
هو جي! يقيناً که د داسې علماوو سره د چا تلل راتلل وي نو هغه کله هم نشي ګمراه کېدای او هغه ته بغير د علم حاصلولو نه علم حاصلېږي.
صحيح ده خو زه... دې جملې ويلو سره ناوې چپ شوه.
چپ کېږې ولې؟ سهيل د مينې نه ډک نظر سره ناوې ته وکتل او دا يې وويل.
ناوې وويل: زه د هغه (سوداګر) سره ملا وېدای شم دې لپاره چې زه د هغه نه خپل نور اعتراضات او اشکالات هم حل کړم او هغه ماته جوابونه راکړي؟
سهيل وويل: ستا لپاره زه او زما علم کافي دی، که ضرورت پيدا شو نو بيا به ورته سوچ کوم.
(ناوې وويل) اوس ماته د خپلې دويمې غلطۍ احساس هم کېږي. چې د قرآن کريم د صريح او واضح ايت په مقابله کې زموږ علماوو ليکلي دي (چې موږ هر حديثِ رسول نه منو) دا دوی ډېر غلطه خبره ليکلې ده، زه د دې غلطۍ او بدې عقيدې نه د براءت اعلان کوم.
ډېر ښه! ډېر ښه! دې خبرې سره سهيل د ناوې سره په پالنګ

کېناستو. ناوې چې دا نزدېکت او مينه وليده نو خپله څنګل يې ورته خواره کړه.

سهيل خپل سر د ناوې په جولۍ کې د کېښودو والا و، چې ناڅاپي يې سر را اوچت کړو او کېناستو.

څه وشول د زړه سره؟ (ناوې ووېل)

څه هم نه دي شوي خو يوه خبره پاتې شوه که چېرته تا ته د هغې غلطۍ احساس وشي نو ډېره به ښه وي او ستا ايمان متعلق به زما زړه مطمئن شي او شپه به په سکون سره تېره شي.

څه خبره ده؟ تاته معلومه ده چې کله هم ما ته د غلطۍ احساس وشي نو سمدستي خپله غلطي منم؟

سهيل ووېل: صحابه کرام د دې امت مقدس او پاک خلک دي، الله تعالی قرآن کريم کې فرمايي: "رضي الله عنه و رضوا عنه"

ژباړه: الله تعالی د صحابه کرامو نه راضي دی او صحابه کرام د الله تعالی نه راضي دي.

بل ځای کې الله تعالی فرمايي: "لقد رضي الله عن المؤمنين اذ يبايعونک تحت الشجرة"

ژباړه: يقيناً الله تعالی د هغه مؤمنانو صحابه کرامورضي الله عنهم نه راضي شو چې کومو تا سره د ونې لاندې بيعت کولو.

دې نه علاوه د حضور عليه السلام ارشادات د صحابه کرامو رضي الله عنهم په باره کې مخکې ما تاته اورولي وو او نور هم ډېر احاديث د صحابه کرامو په فضيلت باندې د احاديثو کتابونو کې موجود دي.

اوس د دومره ايتونو او حديثو شريفو باوجود ستاسو علماوو د

صحابه کرامو قول، و فعل حجت نه مني نو دا ډېره سخته بې ادبي ده، بلکې دېره بې کاره عقیده ده او دا خبره ثابته ده، څکه چې ستاسو یو عالم وحید الزمان (چې د بخاري وغیره ترجمه یې هم کړې ده) د نزل الابرار په حاشیه کې لیکلي دي، چې د دې نه معلومه شوه چې په صحابه وو کې بعضې فاسقان وو، لکه ولید بن عقبه، معاویه، عمرو بن عاصي، مغیره بن شعبه، او سمره بن جندب (نعوذ بالله منه) (نقل کفر، کفر نباشد از مترجم)

همدغه ستاسو وحید الزمان "لغات الحدیث" کې د حضرت امیر معاویه رضي الله عنه په باره کې لیکي، چې د معاویه لپاره د تعظیم کلمات مثلاً حضرت یا رضي الله استعمالول ډېر جرات مندي او ظلم دی.

د بخاري شریف په ترجمه کې یو ځای کې لیکي، چې ابوسفیان ټول عمر د حضور صلی الله علیه و علی آله وسلم سره جنګ وکړ او د ابوسفیان زوی معاویه حضرت علي رضي الله عنه خلیفه برحق مقابله وکړه او د زرګونو مسلمانانو وینه یې تویې کړه، ترقیامته پورې په اسلام کې چې کوم ضعف او کمزوري راغلې ده صرف د معاویه د وجې نه راغلې ده.

الله تعالی د صحابه وو د رضامندۍ اعلان کړی دی او خوږ پیغمبرصلی الله علیه وسلم د دوی د تابعدارۍ حکم ورکړی او د هدایت ستوري یې ګرځولي دي، خو ستاسو علماوو صحابه کرامو رضي الله عنه ته فاسقان وایي او د هغوی ګستاخي کوي، تر دې پورې چې بعضې حضرت عمررضي الله عنه ته بدعتي وایي. همدغه کار د شیعه ګانو دی چې صحابه کرامورضي الله

عنهم ته بد وايي او بد ليکي او همدغه کار اوس تاسو شروع کړی دی، ستاسو شجره نسب خو چرته شيعه گانو سره نه ملا وېږي؟
نا جي!! نه ملا وېږي (ناوې فوراً وويل)
ماته د دې خبرو علم نه وو ما دوی سره ځکه محبت او مينه کوله، چې دوی دعوه کوله چې موږ حديثو باندې عمل کوو، ماته څه اختيار دی چې زه د صحابه کرامو رضي الله عنهم په شان کې داسې غلطه عقيده ولرم او چا چې د صحابه کرامو په باره کې داسې غلطې خبرې ليکلې وي، هغه زه مسلمان هم نه گڼم، همدغه خلک (صحابه کرام رضي الله عنهم) خو زموږ د دين و اسلام گواهان دي که چېرته د يوې مقدمې (مسئلې) گواهان د اعتماد وړ نه وي، نو هغه مقدمه او مباحثه نه منل کېږي. يا الله جل جلاله ماته صحيح پوهه نصيب کړې.
اوس يې خوند وکړو... سهيل وويل خبرې به هم جاري وي او مينه کې به زياتی هم کېږي.
ناوې وويل: خو ته ما په هره يوه مسئله کې چپ کولای نشې...
هغه ولې؟ سهيل وويل.
هغه ځکه چې زه د الهدی بين الاقوامي ادارې د استازي او مشيرې خاص او محبوبه شاگرده يم (ما د هغې نه ډېر علم زده کړی دی)
بنه! دا څه خبره نه ده، اول ته خپل پوشق پوره کړه بيا به ستا د استازي شوق هم پوره کړم.
ولې ته زما د باجي نه غټ عالم يې؟
نا، ناوې! زه خو يو بې علمه او جاهل (ناپوهه) يم دا خو صرف د

اهل علم سره د مینې اثر دی، چې ستا د استازي په شان د زرګونو خلکو خوله بند وم، خفه کېږه مه. اوس لږ خوب وکړه، پرون شپه هم نه وو ویده شوي، ماښام چې د دفتر نه واپس راشم بیا به په رفع الیدینو باندې خبره کوو، خبرې جاري وې چې د وایې والا بجلي بنده کړه، دې سره مجلس ختم شو.

## دریمه شپه

سهیل د شپې ناوخته کور ته راغلو، نو ناوې د ګیلې په انداز کې
وویل:
دومره ناوخته ولې؟
بس نن...... سهیل دا وویل او نور چپ شو.
بس نن، د دې څه مطلب؟ (ناوې وویل)
نن ملګرو راته دعوت کړی و.
ملګرو دعوت کړی و؟
هو جي!
ډېر ښه ته او ستا ملګري! د وده لومړی دعوت.... او هغه هم د
ښځې نه بغیر؟
نا! داسې خبره نه ده تاته هم دعوت وو خو!
خو څه؟ (ناوې وویل)
سهیل وویل د هغوی سخت شرط او ستاسو مسلک زه ډېر حیران
و پرېشان کړم.
هغه ولې؟ (ناوې وویل)
هغه ځکه چې زما ملګرو شرط لګولی و، چې هر څوک به د ودې
او دعوت ته د خپل مسلک په لباس کې راځي.
نو بیا څه وشول د دوی شرط خو څه غلط نه و!

غلط نه و؟ (سهیل په حیرانتیا سره وویل)
ستاسو علماوو لیکلي دي چې پاتونان پټول ضروري نه دي، د دوی ښکاره مقصد دا وچې ته کچه واغوندې او دعوت ته لاړه شې نو ته به په داسې حالت کې تلو ته تیاره وې؟
کله هم نه! ناوې دا وویل او سر یې ښکته کړ.
اوس سر ښکته کولو سره څه کېږي، ستا مسلک همدغسې دی.
زه د علماوو خبره په پټو سترګو نه منم، چې څه وايي هغه به منم، موږ خو قرآن او حدیث شریف منو، او بیا خصوصاً د بخاري شریف حدیثونه (منو).
د رفع الیدینو په مسئلة کې به درته د بخاري شریف د حدیثونو انبار ولګوم، ځکه خو موږ د چا تقلید نه کوو چې په تقلید کې سوا د شرم نه څه نشته، ستاسو بخاري شریف خو زه ډېر خفه کړم (سهیل وویل)
هغه څنګه؟ ناوې په حیرانتیا سره پوښتنه وکړه؟
هغه داسې چې ما ستا وکالت کولو نو ملګرو ته مې وویل چې خبره به په قرآن کریم او حدیث شریف باندې کوو، په خاصه توګه په بخاري شریف باندې!!
نو بیا څه وشول؟ (ناوې وویل)
بیا څه! هغه وخت زما زړه غوښتل چې زه د ځمکې په مخ بالکل وی نه، چې کله دوی بخاري شریف زما مخې ته کېښودو، په بخاري شریف دوه روایتونه وو یو د پاتونانو پټولو والا، او بل روایت د نه پټولو والا، بیا امام بخاري رحمة الله علیه لیکلي دي چې د پتونانو نه پټولو والا حدیث شریف د سند په اعتبار سره

قوي دی.
اُف الله تعالی! ناوې تندي ته تک ورکړو او یو ځل یې بیا سر ښکته کړو.
(څه وخت یې سر ښکته وو) بیا یې وویل: دا امام بخاري رحمة الله علیه څه لیکلي دي؟
امام بخاري رحمة الله علیه ته بد ویلو نه مخکې په خپل مسلک باندې سوچ او فکر وکړه چې په هره خبره کې په حدیث شریف باندې د عمل کولو دعوی کوي. (سهیل وویل)........
سهیل! (ناوې وویل)
جي ښځې!
ناوې وویل: ماته داسې ښکاري لکه د محبوب د کور وران او خراب دېوالونه وینم او ماته د خپل محبوب هغه کور او په هغه کې تیرې شوې ورځې شپې را یادېږي تاته څه ښکارېږي؟ (سهیل وویل)
هغه خبره دا چې د مجتهدینو په اتباع کې په قران کریم او حدیث شریف باندې عمل کول پکار دي هغوی به ویل چې هر سنت باندې عمل کول پکار دي، هر حدیث شریف باندې نشي کیدلی.
د دې ښکاره مقصد خو دا شو چې د اهل السنت مسلک حق دی (سهیل وویل)
زما په سوچ او فکر کې هم دا خبره راځي....
(ناوې وویل) خو زه بخاري شریف څنګه پرېږدم؟
ښه ده (چې بخاري شریف نه پرېږدې) خو په بخاري شریف به څوک عمل کوي؟ (سهیل وویل)

زه به پرې عمل کوم (ناوې وویل)
سوچ وکړه! هسې نه چې بیا امام بخاري رحمة الله علیه ته بد رد او کنځل شروع کړې.
چېرته هم نشي کېدای، چې زه امام بخاري رحمة الله علیه ته کنځل وکړم، امام بخاري رحمة الله علیه خو امیرالمؤمنین فی الحدیث دی، شپږ لکه حدیثونه ورته یاد وو اوس به پته ولګېږي ستا او ستا د امام بخاري رحمة الله علیه (سهیل وویل)
او د جیب نه یې استره راښکاره کړه او هوا کې یې اوچته کړه.
دا څه دي؟ (ناوې وویل)
ستاسو امام بخاري صاحب یو حدیث نقل کړی دی ""اذا التقی الختانان" چې د نر او ښځې دواړو ختنه به کېږي، که چېرته ته په بخاري شریف عمل کوې نو بیا ستا ختنه کول پکار دي.
څه؟؟ څه؟؟
خپلې خولې ته دې کتلي دي، چې زما ختنه کوې ستا خپله ختنه شوې ده؟ ناوې په ډېره غوسه کې وویل.
غوسه مه کوه! (سهیل وویل) دا شرعي مسئله ده زما ختنه شوې ده اوس ستا وار دی او.... خدای لپاره ما معاف کړه (ناوې وویل) بیا به زه د بخاري شریف نوم نه اخلم.
نه نه! ما پرېږده چې یو سنت ژوندي کړم نو د سلو شهیدانو ثواب به راته راکړل شي.
د زړه سره! مهرباني وکړه (ناوې وویل)
څه وخت خاموشۍ نه وروستو....
ته خپل موضوع ولې پرېږدې؟

داسې معلومېږي چې ته د خپلې غلطۍ اقرار کوې ځکه نوې نوې
خبرې منځ ته راوړې (ناوې وویل)
سهیل وویل: اوس په توجه سره واوره!
قاعده او قانون دا دی چې کله یوه مسئله په کتاب الله شریف کې
ملا وېږي نو بیا بل ماخذ او دلیل ته د تللو ضرورت نشته (او د
کتاب الله نه رفع الیدین نه کول ثابتېږي)، خو زه ته خپل شوق
پوره کړه یو حدیث شریف پیش کړه چې د هغه نه ستا مسلک
ثابتېږي؟
یو څه، چې څلور سوه حدیثونه به درته پیش کړم، چې ته به هم
حیران شې.
خو اول د خپل مسلک وضاحت وکړه ستا په نزد رفع الیدین سنت
دي؟ (سهیل پوښتنه وکړه)
هو جي! (سنت دي)
ایا حضور صلی الله علیه و علی آله وسلم تول عمر رفع الیدین
کړي دي؟
هو جي!
چې څوک په لمانځه کې رفع الیدین نه کوي د هغه لمونځ نه
کېږي؟
هو جي! (نه کېږي)
مخکې له دې څخه چې زه ستا نه دلیل وغواړم، دا ووایه چې سنت
څه ته وایي؟
دا هم څه سوال او پوښتنه ده، په دې خو هر څوک پوهېږي چې
کوم کار حضور علیه السلام کړی وي هغه ته سنت ویل کېږي.

دا "سنت" دا تعریف په قرآن کریم کې دی، که په حدیث کې؟
(سهیل په خندا سره وویل)
بیا خو د دې مطلب دا شو چې اذان کول سنت نه دي، د لمونځ لپاره اقامت کول هم سنت نه دي، ځکه چې دا کارونه حضورصلی الله علیه وسلم (پخپله) نه دي کړي.
هو! یوولس وادونه کول سنت دي، ځکه چې حضور علیه السلام یوولس وادونه کړي دي...
ته اهل حدیث یې خو بیا هم ماته د دویم واده اجازت نه راکوې.
(سهیل وویل)
ناوې په حیرانتیا سره د سهیل خولې ته کتل او په زړه کې یې دا خبرې تیرېدې راتیرېدې، چې دا سړی (سهیل) ډیره خرپیلی دی، لباس یې هم د سنتو مطابق نه دی، خو ماته خوله ماتي ځوابونه راکوي.
(ناوې په غوسې سره سر اوچت کړو او ویې ویل) ته راځې ماته د "سنت" تعریف خو زه منم چې هغوی (بخاري شریف) ته شپږ لکه حدیثونه یاد وو (ناوې وویل)
ښځې! (سهیل وویل)
ته هم د خپلو علماوو په شان دروغ وایې موږ ته په دې کې څه غرض او مقصد نشته چې چاته شپږ لکه احادیث یاد وو او چاته اوولس، چې چاته اوولس حدیث یاد وو هغه موږ ته د لمونځ روژې او حج مسایل ونښودل ځکه موږ د هغه تقلید وکړو او د شپږ لکو والا موږ ته د یو رکعت لمونځ مسایل هم ونښودل، ځکه موږ د هغه تقلید ونکړو. (سهیل وویل)

ولې په بخاري شريف کې د لمونځ مسئلې نشته؟ (ناوې وويل)
بالکل نشته! (سهيل وويل)
که وي نو وايه:
(۱)- د لمونځ نيت به څنګه کوې؟
(۲)- په تکبير تحريمه کې امام په زوره تکبير وايي او مقتدي په ورو آواز سره، صحيح احاديث شريف را وړه!
(۳)- که چېرته امام په هېرې سره تکبير تحريمه په ورو ووايي نو لمونځ يې کېږي که نه؟
(۴)- که چېرته مقتدي تکبير تحريمه په زوره ووايي نو لمونځ يې کېږي که نه؟
(۵)- د تکبير تحريمه نه وروستو که څوک خپل لاسونه په سر يا په شا کېږدي، نو لمونځ يې کېږي او که نه؟
(٦)- د تکبير نه وروستو که څوک "ثنا" په اوچت اواز ووايي نو د هغه د لمونځ څه حکم دی؟
(۷)- که چېرته چا نه "ثنا" ويل هېر شول تکبير نه وروستو يې سمدستي قرات شروع کړو نو د هغه د لمونځ څه حکم دی؟
(۸)- تعوذ او تسميه که څوک په اوچت اواز سره ووايي نو د هغه د لمونځ څه حکم دی؟
(۹)- که چا نه تعوذ او تسميه ويل هېر شي يا يې قصداً پرېږدي، نو د هغه د لمونځ څه حکم دی؟
(۱۰)- د رکوع تسبيحات که څوک په زوره سره ووايي نو د لمونځ يې څه حکم دی؟
(۱۱)- د سجدې تسبيحات که څوک په اوچت اواز ووايي نو د

هغه د لمونځ څه حکم دی؟
(۱۲)- که چا نه د رکوع او سجدې تسبیحات هېر شي یا یې قصداً پرېږدي د هغه د لمونځ څه حکم دی؟
ښکاره، صحیح او غیر متعارض روایات پیش کړه (د دې مسایلو په باره کې).
او دا خو ما اوس ستا نه د یو رکعت پوره مسایل هم نه دي پوښتلي، نور به بیا درنه پوښتنه کوم، په امام اعظم رحمة الله علیه باندې اعتراضونه کوې، شرم نه درځي!!
زړګیه! معافي کوه ماته معلومه نه وه چې دومره د علم سمندر دی.
امام بخاري رحمة الله علیه په ریښتیا د دې مسایلو په باره کې حدیث نه دي نقل کړي.
نو بیا؟؟ (سهیل وویل)
نو بیا څه... خو اوس ارام وکړه!
سبا چې زه د استازي سره ملا وشم نو ستا د ټولو سوالونو ځواب به ترې وغواړم.
ډېر ښه! (سهیل وویل)... که د استازي نه ځواب ملا و نه شو نو بیا هغه هم راوله چې د هغې اپریشن هم وشي او بیا ستا په شان ساده جینکۍ نه ګمراه کوي.
د ناشتې نه چې سهیل فارغ شو او دفتر ته روانېد و نو ناوې ورته وویل که وخت درسره وي نو ما هم ځان سره الهدی انټرنیشنل کالج ته ورسوه.
صحیح ده.... خو ځواب داسې پکار دی چې پوره تسلي او

اطمينان پرې کېږي.
ته بې فکره شه! (ناوې وويل) او د موټر دروازه يې خلاصه کړه او کالج ته داخله شوه.
چې څنګه د باجي نظر پرې پرېوتو، نو ويې ويل څنګه دی ستا خاوند؟
زموږ د علم نه څه فايده وشوه که نه؟ تا د هغه سره د اهل حديث کېدو خبره ونکړه؟
مشرې! د واده نه وروستو درې شپې وشوې نه پخپله ويده شوی دی او نه يې زه خوب ته پرېښودی يم زما د هرې خبرې په دقيقو کې ځوابونه راکوي او نن شپه يې دا.... پوښتنې وکړې، تر اوسه مې دماغ ګرځي راګرځي (د دوو شپو کيسه يې په ژړا کې واورولـه).
او کوروالی؟؟؟ (مشرې تپوس وکړو)
د دې مسايلو ځواب چې ورکړم نو بيا به دې طرف (کوروالي) ته خيال او فکر څي.
ډېر بد وشول تا سره.... (مشرې وويل)
اوس ته مهرباني وکړه چې د دې مسايلو ځواب د بخاري شريف نه تلاش کړه، چې نن شپه بيا شرمنده نشم (ناوې وويل)
زه د دې ځواب د کوم ځای نه راوړم؟ (مشرې په غوسه کې وويل)
څه وخت د واړه داسې خاموشه شول لکه چا يې چې په خولو مهر لګولی وي.
خو بيا باجي د خپل مخ نه د شرمندګۍ او د حفګان علامات لرې کړل او ويې ويل داسې معلومېږي چې ستا د خاوند ملګرتيا د

ماستر امین د شاګرد سره ده.
کېدای شي خو په دې سره څه فرق راځي؟
څه فرق راځي عجیبه خبره کوې اوس ته وړه یې تاته څه معلومه ده چې ماستر امین څوک و او په علم کې یې څه درجه لرله؟ د عیسایت، مرزائیت، بریلیت، مماتیت، جماعت المسلمین، اوریز پریت بېخ کند به یې کوله، چا کې دومره جرات او حوصله نه وه چې د هغه سره خبره او مناظره وکړي، صرف زموږ اهل حدیث علماوو د هغه سره سل مناظرې وکړې.
سل مناظرې؟ (ناوې وویل)
هو جي! خو په هره مناظره کې به زموږ علماء ناکام او نامراده وو، ماستر امین به کامیاب و او مناظره به یې ګټله او صرف خبره تر دې پورې نه ده، بلکې یو وخت هغه هم راغلو، چې زموږ یو مناظر هم د ماستر سره مناظرې ته نه تیارېدو، زموږ لوی لوی علماوو لکه روپړي اثري، ساجد میر، حافظ سعید، پروفېسر عبدالله بهاولپوري په شان علماوو به چې کله د ماستر نوم واورېدو، نو هغه ځای به یې پرېښودو او تښتېدل به.
(مشرې دا خبرې کولې او ناوې یې په حیرانتیا سره خولې ته کتل)
د خدای تعالی کول وو، چې د هغه ورځې شپې په دې دنیا کې پوره شوې او وفات شوه.
خیال مو وو چې اوس به نور ژوند په ارام او اطمینان سره تېر کړو.... خو!
خو څه؟؟ (ناوې وویل)

د هغوی شاګردانو، مفتي محمد انور اکاړوي.... مولانا منیر احمد منور.... مولانا محمود عالم منصور اکاړوي... مولانا عبدالغني طارق... مولانا ایاس ګهمن... مولانا عبدالله وړایچ... علامه عبدالغفار ذهبي.... زموږ خوبونه حرام کړي دي...

زموږ ژوند یې مشکل کړی دی، موږ په خپله دعوی باندې دلیل نه شو پیش کولی او نه موږ سره د هغوی د دلایلو څه ځواب شته

(استازي دا خبرې ډېرې په خفګان سره وکړې)

باجي... باجي... باجي...

ډېر وخت وروستو باجي سر اوچت کړو!

جي بچی! وایه څه وایې؟

باجي! دې نه ښه خو داده، چې موږ د اهل حدیثو مسلک پرېږدو او د اهل السنت مسلک قبول کړو.

نا بچی که داسې مو وکړل نو زموږ جوړ کړی شوی رعب، دبدبه او شان او شوکت به خاورو سره خاورې شي او د سعودیه، کویت او د عربو نه راتلونکې چندې به بندې شي، په خپله غلطۍ زموږ ټول علماء پوهېږي خو...خپل مسلک به څنګه پرېږدو؟ (چې دومره دنیاوي ګټې دي پکې)

فرعون ته پته وه چې زما د خدایۍ دعوی غلطه ده، خو هغه ته پته وه چې که چېرته زه د خپلې دعوې نه وګرځدم نو زما بادشاهت ختمېږي (نو هم ددې وجې نه موږ خپل مسلک اهل حدیث نه شو پرېښودی)

تاته یو چل او تدبیرښایم، چې بیا کله هم بحث شروع کړي نو ته به د هغوی د فقې په کتابونو د اعتراضاتو باران وکړې، کېدای

شي په دې تدبير سره هغه لا ځوابه شي او دا اخري تدبير دی چې دې سره ته په هغه کاميابي موندلی شې.
که چېرته دې حملې او تدبير څه ځای ونه نيولو او د دې ځواب يې درکړو، نو بيا ورته وايه چې زموږ اهل حديثو تاسو سره نکاح جايز نه دي، زما مور او پلار بغير د تحقيق کولو نه نکاح کړې ده. بيا په عدالت کې د نکاح د منسوخ کولو دعوی وکړه او طلاق ترې واخله، بيا که چېرته غير مقلد هلک پيدا نه شو نو د عيسايي، يهودي، هندو يا د سکهـ سره نکاح وکړه نو د مقلد سره يې مه کوه، ځکه چې تقليد شريک دی او مقلد گمراه او مشرک وي.

## څلورمه شپه

سهیل په کوټه کې انتظار کاوه، چې ناوې ښکته خوله او ټيټې سترګې کوټې ته را داخله شوه او د پالنګ په یو طرف کېناسته.
معلومېږي، چې ستا کار نه دی شوی؟
ماته اوس یقین وشو! (سهیل وویل)
د کومې خبرې؟ (ناوې په ورو سره وویل)
زما د وسپنې خرڅوونکي ملګري به ویل چې زما د استاذ علم د وسپنې نه هم زیات سخت او مضبوط دی.
ستا د ملګري استاذ څوک دی؟
حضرت مولانا محمد امین صفدر کاړوي رحمة الله علیه...
(سهیل وویل)
دې خبرې اورېدو سره د ناوې مخ خړ پړ شو... ډېره مشکله سره یې وویل: "باجي ربنتیا وویل"
څه یې ربنتیا وویل (سهیل پوښتنه ترې وکړه)
بس پرېږده مړه! (ناوې وویل)
پرېږده یې مه د حقیقت اعتراف کول او حقیقت ظاهرول د ایمان علامت او نښانه ده (سهیل وویل)
باجي وویل چې ماسټر امین (مولانا محمد امین صفدر اکاړوي)

زموږ علماء ذليله او شرمنده کړل او په ميدان کې يې د ناکامۍ سره مخ کړل اوس د هغه (اکاړوي) شاګردان موږ شرمنده او ذليله کوي. زموږ شاګرده به څه ځواب ورکړي... موږ خپله د هغوی مخ ته لا ځوابه يو.

سهيل! (ناوې وويل) او د خپلې موضوع طرف ته راشه، بخاري شريف حديث نقل کوي:

حضرت عبد الله ابن عمررضي الله عنهما فرمايي: "ما پيغمبرعليه السلام وليد و چې تکبير تحريمه په وخت کې رفع اليدين کول، چې کله به رکوع ته ښکته کېدو رفع اليدين به يې کول او چې کله به د رکوع نه پورته کېدو، نو رفع اليدين به يې کول"

واخله! د داسې کتاب نه مې در ته حديث پيش کړو، چې د قرآن کريم نه وروستو اصح الکتب دی. دې خبرې کولو سره ناوې د خوشالۍ نه اوچته شوه او سهيل طرف ته يې لاس اوږد کړو او ويې ويل ته هم د رفع اليدينو نه کولو داسې يو حديث پيش کړه، چې اوس شيدې او اوبه معلومې شي. معلومېږي چې ته خانداني غير مقلده يې؟ (سهيل وويل) ځکه چې دروغو باندې دروغ ويل د دوی په فطرت او عادت کې داخل دي.

ولې ما دروغ ويلي دي؟ (ناوې وويل)

هو جي! د بخاري شريف د قرآن نه وروستو اصح الکتب کېدل قرآن کريم نه ثابت دي او که دحديث نه؟

يا صرف د ابن صلاح تقليد کوې او مشرکه جوړېږې، د دې باوجود چې د ابن صلاح امام، امام شافعي رحمة الله عليه، موطا امام مالک ته اصح الکتب وايي د احنافو په يو کتاب کې ماته

چیچله یې او دې کې هم نه وه، چې وینې بهېږي... د سهیل دومره اوږد تقریر اورېدو سره د ناوې په تندي خوله راغله، د تندي نه یې خوله پاکه کړه او ویې ویل: زه د بخاري شریف حدیث پیش کوم او ته بخاري پرېږدې د نورو کتابونو حوالې پیش کوې، موږ اهل حدیث بخاري شریف د ټولو نه مخکې منو، بخاري شریف چې کوم حدیث راشي هغه حدیث موږ د نورو کتابونو د حدیثونو د مقابلې له وجې نه، نه پرېږدو (ناوې دا یو څو خبرې وکړې او چپه شوه)

معلومېږي چې تا د تقلید کلو سره د پخه مشرک کېد و اراده کړې ده (سهیل ویل)

"بخاري شریف به د ټولو نه مخکې منې" دا اصول او قاعده په قرآن کریم کې ده که په حدیث کې؟ که یو کې هم نه وي نو د اصول او قاعده دې خپله ځان نه جوړه کړې ده چېرته دې خپله په دې اصولو عمل کړی دی؟

ولې نه! (ناوې سمدستي وویل)

ښه واوره! (سهیل وویل)

(۱)- په بخاري شریف کې روایت دی چې پیغمبر علیه السلام په ولاړه بولې کړي دي، تا او ستا باجي کله په دې روایت عمل کړی دی؟

(۲)- په بخاري شریف کې د اوښانو د متیازو د څښلو امر شوی، تا یا ستا کور والا متیازې څښلي؟

(۳)- بخاري شریف کې دي چې پتون ستر کې داخل نه دی، ته او ستا ملګرې چېرته بربنډ پتون بازار ته د جمعې لمونځ ته یا د

اختر لمونځ تلي يئ؟

(۴)- په بخاري شريف کې دي چې مصافحه په يو لاس سره کول پکار دي، د يو لاس روايت نشته بخاري شريف کې اخر تاسو اهل حديث په دې حديث ولې عمل نه کوئ؟

(۵)- په بخاري شريف کې دي چې "امين" دعا ده او د دعا ورو سره کولو حکم قرآن کريم ورکړی، نو تاسو ولهذا په خلاف عمل کوئ؟

(٦)- په بخاري شريف کې دي "الفقه ثمرة الاحاديث" چې فقه د احاديثو ثمره ده، نو بيا فقه ولې نه منې؟

(۷)- په بخاري شريف کې بو ټانو سره لمونځ کولو روايت شته، تاسو په دې ولې عمل نه کوئ؟

ناوې اوچته شوه او د سهيل په خوله يې لاس کېښود و چې نور بس کړه!

اف الله تعالی! دا ټول په بخاري شريف کې دي؟

هو ! هو ! دا ټول په بخاري شريف کې دي او نور واوره!

(۸)- په بخاري شريف کې د "وطي فی الدبر" ذکر شته نو ولې تاسو خلک په دې باندې عمل کوئ؟

د زړه سره! بس که نور اوس زه پوهه شوم چې موږ بخاري شريف مقدم کړی دی، دا مو ډېره لويه غلطي کړې ده، چې د هغې سزا اوس زه موم‌م (ناوې ووېل).

(۹)- په بخاري شريف کې درې طلاقو ته درې ويلی شوي دي، خو تاسو يې نه منئ (تاسو درې ته يو وايئ).

الله تعالی دې باجي هلاکه او برباده کړي چې هغې دا ټولې خبرې

او حوالې ساده جينکو ته نه دي ښودلي دا ټولې حوالې چې کله باجي ته ظاهرې شي نو هغه به هم حيرانه شي او امام بخاري رحمة الله عليه ته به بد رد ووايي او کېدای شي چې د اهل حديثو مسلک پرېږدي (ناوې ووېل).

ګرانه ده! ډېره ګرانه ده دا خبره (سهيل ووېل)

او که مسلک اهل حديث پرېږدي هم، نو قادياني ډلې ته به اوړي مخکې هم ډېر اهل حديث قاديانان شوي دي په خپله مرزا قادياني (په دروغه د نبوت دعوی کوونکی) اول اهل حديث و، لمونځ کې به يې ستا په شان رفع اليدين هم کول.

اخوا دېخوا خبرې پرېږده، که زه ستا د مطالبې موافق حديث پيش کړم نو بيا؟؟ (ناوې ووېل)

ناوې ووېل: سنن بيهقي کې روايت دی... "عن ابن عمر ان رسول الله صلی الله عليه وسلم کان اذا افتتح الصلوة رفع يديه و اذا رکع و اذا رفع راسه من الرکوع و کان لا يفعل ذلک فی السجود فما زالت تلک صلوته حتی لقی الله تعالٰی"

مطلب دا چې پيغمبر عليه السلام تر مرګه پورې رفع اليدين کول، ستا مطالبه پوره شوه اوس اعلان وکړه چې نن نه پس به رفع اليدين کوم.

څومره خوشالېږې (سهيل ووېل) تا ته خپله دعوی هم ياده نه ده؟ په دې حديث کې دا شته چې رفع اليدين سنت دي؟ نا! په دې حديث کې دا شته چې څوک رفع اليدين ونکړي، د هغه لمونځ باطل دی؟ نا! نو بيا زما مطالبه څنګه پوره شوه؟

ګوره زرګیه! په دې حدیث کې دي چې پیغمبر علیه السلام تر مرګه پورې رفع الیدین کول (ناوې ووېل)
سهیل ووېل: تاته پته شته چې دا حدیث موضوع د ځان نه جوړ کړی شوی او دروغ دی؟
نا زرګیه! خو باجي به وېل چې موږ سره داسې روایات دي چې د هغې جواب څوک نشي کولای.
دې حدیث سند کې دوه راویان وضاع (د ځان نه جوړونکي) کذاب (دروغ تړونکي) دي. (۱)- عبد الرحمن بن قریش، دې متعلق امام ذهبي رحمة الله علیه په میزان کې او ابن حجر رحمة الله علیه په لسان نومې کتاب کې لیکي: "اتهم السلیماني بوضع الحدیث" محدث سلیماني وایي، چې دې (عبد الرحمن بن قریش) به ځان نه حدیث جوړول.
(۲)- دویم راوي عصمه بن محمد الانصاري دی، علامه ذهبي رحمة الله علیه په میزان کې او ابن حجر رحمة الله علیه په لسان کې لیکلي دي، چې: ابوحاتم وایي، چې دا قوي نه دی، یحیی وایي چې دا دروغژن دی، عقیلي وایي چې دې (عبد الرحمن) ثقه راویانو طرف ته باطل او د موضوع روایات منسوب کوي، دار قطني وایي چې دا متروک (پرېښودلی شوی) دی ابن عدي وایي چې د دې ټول روایتونه غیر محفوظ دي.
ودې لید و خپل حدیث؟ چې څه حال یې شو؟ دویمه خبره دا چې پخپله د ابن عمر نه په مسند حمیدي جلد ۲ صفحه ۲۷۷، صحیح ابو عوانه جلد ۲ صفحه ۹۵ باندې روایت دی، چې پیغمبر علیه السلام به کله رکوع ته ښکته کېدو یا به د رکوع نه

راپورته کېدو نو رفع اليدين به يې نه کول.
بيا د دې حديث راوي ابن عمر دی، هغه پخپله په دې عمل نه کوي، د هغوی شاگردان، حضرت مجاهد رحمة الله عليه او عبدالعزيز بن حکيم فرمايي، چې ابن عمر به د لومړي تکبير نه علاوه رفع اليدين نه کول. (طحاو جلد ۱، صفحه ۱۵۵، ابن ابي شيبه جلد ۱، صفحه ۲۳۷، موطا امام محمد صفحه ۹۰) دې نه معلومېږي چې دا روايت (چې کوم د رفع اليدينو کول ذکر دي) منسوخ دی، که منسوخ نه وو نو ابن عمر به پرې چېرته هم عمل نه وپرېښودی.
ښه! اوس ته زما مطالبه پوره کړه (ناوې وويل) زه به رفع اليدين پرېږدم، يو داسې صحيح حديث راوړه چې په هغه کې د پيغمبر عليه السلام نه رفع اليدين نه کول ثابت وي؟
اوس جوړه شوه خبره! واوره... امام ترمذي په خپل کتاب جامع الترمذي کې روايت نقل کړی دی چې حضرت عبد الله بن مسعودرضي الله عنه خپلو شاگردانو ته وفرمايل چې زه تاسو ته د پيغمبر عليه السلام لمونځ ونه ښايم؟؟ بيا هغوی لمونځ وکړو (شاگردانو ته د ښودلو لپاره) هغوی صرف اول مرتبه (تکبير تحريمه سره) رفع اليدين وکړل (بيا يې ونکړل).
صحابه کرامو رضي الله عنهم ته بدې ردې ويونکو! (سهيل په غوسه کې وويل) په غور سره واوره دا روايت په شپيتو سندونو سره نقل شوی دی، داسې شوه لکه ما درته شپيته حديثونه په يو ځای پيش کړل، او عبد الغفار ذهبي رحمة الله عليه خو د ... مضمون او عنوان مطابق اووه سوه روايات راجمعه کړي دي

چې تقدیر کې چا لپاره هدایت نه وي لیکل شوی، نو هغه ته اووه زره روایات هم فایده نه ورکوي (اووه سوه خو وړه خبره ده).
الله اکبر! (د ناوې د خولې نه ووتل) ستا دلیل خو ډېر ښکاره دی بیا په شپیتو سند ونو سره نقل کېدل د قوت دلیل دی، اوس ماته پکار دي چې دې حدیث باندې عمل وکړم او رفع الیدین پرېږدم، خو؟؟
خو څه؟؟ (سهیل ووېل)
(ناوې ووېل) حدیث اورېدو نه وروستو خو څه گنجایش نشته او نه ما سره څه جواب شته، خو بیا هم نن زه باجي سره رابطه کوم چې هغه دې حدیث متعلق څه وایي؟ ظاهراً خو داسې نه معلومېږي چې د هغې څه ځواب وي د دې حدیث خو بیا هم اطمینان خو به وشي (دې خبرې کولو سره ناوې سترگې پټې شوې)
سهیل ووېل... چې زما مور او پلار د کوم مقصد لپاره زما واده کړی و، تا مناظره شروع کړې ده. (خپل مقصد به حاصل کړو)
نه! اوس نه! (ناوې ووېل).... زموږ د علماوو د فتوې مطابق زما نکاح تا سره جایز نه ده، دا بحث او مناظره چې کله خپلې نتیجې ته ورسېږي او زه خپل مسلک پرېږدم نو بیا...
نو بیا څه؟؟ (سهیل په غوسه کې ووېل)
بیا به نوې نکاح وکړو، ناوې ووېل او د پالنگ نه اوچته شوه.
زړگیه! اوس ناشته راوړم.
سهیل سوچ او فکر کې دا خبرې تللې راتللې چې الله تعالی دې ذ..ري که د بحث او مناظره تر ډېرو میاشتو اوږده شوه نو ماته بیا

د واده څه فایده؟

دې نه غوره څو داده چې اوس یو بل واده وکړم دې لپاره چې د سترګو او شرمګاه حفاظت وشي بیا که د دې (ناوې) په قسمت کې هدایت وو نو دویم واده به ورسره وکړم، د قرآن کریم په حکم به هم عمل وشي، "فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَ ثُلٰثَ وَ رُبٰعَ ۚ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تَعْدِلُوْا فَوَاحِدَةً اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۭ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَلَّا تَعُوْلُوْا ۝" او که هدایت یې قسمت کې نه وو نو په یوه به صبر کوم چې د پلار نیکه سنت ژوندي شي، ځکه چې هغوی هم یوه کړې وه.

زړګیه ناشته مې درته کېښوده...

ناوې وویل

دېر ښه! سهیل وویل...

# پنځمه شپه

سهیل چې کله ماسخوتن د ودې نه فارغ شو او خونې ته لاړو نو ناوې یې په ولاړه استقبال او سترې مشې وکړله او مخ یې د خوشالۍ نه پړقېدو.

خیر خو دی؟ (سهیل ووېل)

زړګیه ستا دلیل ضعیف دی، ځکه خوشاله یم، چې د کوم کتاب نه تا دلیل پیش کړی وو په هم هغه کتاب کې یې د دې حدیث ضعف هم لیکلی دی.

ښه! په ترمذي کې څه لیکلي دي...؟

په ما ګرانه! د امام بخاري رحمة الله علیه استاذ حضرت عبد الله ابن مبارک رحمة الله علیه هم د دې حدیث متعلق فرمایي: "لم یثبت" چې دا حدیث ثابت نه دی.

پوهېږې ابن مبارک رحمة الله علیه څوک ؟ (سهیل ووېل)

نه! (ناوې ووېل)

د محدثینو او فقهاوو د سردار حضرت امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه شاګرد او مقلد و، دا روایت د صحت او ضعف بنیاد په سند باندې وي، ددې حدیث ټول راویان د صحیحینو والا دي، ټول راویان د دې حدیث د

بخاري او مسلم شریف والا دي؟
(ناوې وویل)
هو جي! (سهیل وویل)
نو بیا ابن مبارک دې حدیث متعلق لم یثبت ولې فرمایلي دي؟
(ناوې وویل)
لومړۍ ته د سند د راویانو حالات واوره، بیا دې هم که تسلي ونشوه، نو بیا به دې د لم یثبت په مطلب او مقصد پوهه کړم.
ډېر ښه!
اوس وایه چې د دې د حدیث د سند اول راوي څوک دی؟ (سهیل وویل)
ماته څه پته؟ مورې ته خو د خپل دلیل راویان نه وي معلوم، صرف د طوطي په شان مو یو څو خبرې یادې کړې وي.
ښه! زه درته ښایم د دې حدیث:
(۱)- لومړی راوي د دې د حدیث امام ترمذي دی مشهور محدث دی، د امام بخاري رحمة الله علیه شاگرد دی او استاذ یې هم دی.
(۲)- دویم راوي هناد دی تقریب، تهذیب او تذکرة الحفاظ کې د هناد متعلق لیکلي دي، الامام، الحافظ، ثقه صدوق.... محدث قتیبه فرمایي، چې امام وکیع رحمة الله علیه به د هناد ډېر تعظیم او عزت کولو.
امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه فرمایي چې تاسو هناد لازم ونیسئ. امام بخاري رحمة الله علیه په باب في خلق افعال العباد کې او امام مسلم په جلد اول صفحه ۲۹۱، ۲۱۷، ۳۸۵ کې د هناد روایات نقل کړي دي.

(۳)- دريم راوي وكيع ابن الجراح دی، دې متعلق محدثين فرمايي، الحافظ، ثقة، حافظ، عابد، كان احفظ، و قال احمد: ما رايت مثل وكيع فی الحفظ والاسناد، كان امام المسلمين، كان افقه اثبت فی العراق، و قال ابن معين، ما رايت احفظ منه، كان ثقه ماموناً عالياً، رفع القدر، كثير الحديث، حجة، دا د محدثينو هغه القابات دي چې دوی امام وكيع رحمة الله عليه ته وركړي دي او د امام اعظم ابوحنيفة رحمة الله عليه شاګرد دی. (تهذيب، طبقات الحفاظ للسيوطي) امام بخاري او امام مسلم د دوی نه روايت نقل كوي.

(۴)- څلورم راوي سفيان ثوري دی، دې متعلق محدثين فرمايي، الامام، شيخ الاسلام، سيد الحفاظ، و قال وكيع: سفيان بحيراً، و قال القطان، سفيان فوق مالک فی كل شئ، و قال ابن مبارک، لا اعلم علی وجه الارض اعلم من سفيان، و قال ابن حجر، ثقة، حافظ، فقيه، عابد، حجة، امير المؤمنين فی الحديث (تذكرة الحفاظ، و تقريب)

امام بخاري رحمة الله عليه او مسلم رحمة الله عليه دواړه د دوی نه روايات نقل كړي دي.

(۵)- پنځم راوي د دې حديث عاصم بن كليب... دی محدثين د دې متعلق فرمايي، ثقة، مامون، صدوق، لا باس به، كان افضل اهل الكوفة، (تهذيب و تقريب)

امام بخاري رحمة الله عليه په كتاب اللباس، باب لبس القمس په ترجمة الباب كې د دوی روايت نقل كړي دي.

همدغه شان امام مسلم رحمة الله عليه په ډيرو ځايونو كې د

عاصم بن کليب روايات نقل کړي دي.

(٦)- شپږم راوي د دې حديث عبد الرحمن بن اسود دی، دې متعلق محدثين فرمايي، الفقيه، ثقة، من خيار الناس، ابن حبان، ابن شاهين او امام عجلي اسود په ثقه راويانو کې ذکر کړی دی. (تهذيب، تقريب) امام بخاري رحمة الله عليه او امام مسلم رحمة الله عليه د دوی نه روايات نقل کړي دي.

(٧)- اووم راوي علقمه بن قيس دی، دا د پيغمبر عليه السلام زمانه کې پيدا شوی و، محدثين د دوی متعلق فرمايي، ثقه، ثبت، فقيه، عابد، (تهذيب، تقريب) امام بخاري رحمة الله عليه او مسلم رحمة الله عليه د دوی روايات نقل کړي دي.

(٨)- اتم راوي عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دی، چې صرف صحابي نه دی بلکې په صحابه وو رضي الله عنهم کې لوی فقيه دی.

اوس وايه ټول روايان د بخاري او مسلم دي که نه؟

د ابن مبارک د اعتراض څه حقيقت پاتې شو که نه؟ تسلي دې وشوه که نه؟ اوس خپل باطل مسلک پرېږدې او که نه؟ د نوي نکاح کولو اراده دې شته؟ او که زه بل واده وکړم؟

ناوې د تندي نه خوله پاکه کړه او ويې ويل: په الله تعالی مې دې قسم وي اوس خبره واضحه شوه د حق او باطل پته ولګېده، د غير مقلدينو دروغ څرګند شول.

زړګيه! تا واورېدل، چې ما په ژوند کې اول ځل اهل حديثو ته غير مقلدين وويل.

دا خو څه نوې خبره نه ده، هغوی دي غير مقلد، خو ستا د ويلو ته

معلومېږي چې ستا د هدايت وخت راغلی دی. (سهيل ووېل)
په ما ګرانه! معلومېږي نه، بلکې په رښتيا زما د هدايت وخت راغلی دی، د ټولو نه لومړی د خپل رب جل جلاله نه معافي غواړم او بيا ستا نه او اعلان کوم چې ما خپل باطل مسلک پرېښود او په حق جماعت اهل السنت والجماعت کې داخله شوم.
د غير مقلدينو په مسلک باندې په کروړونو لعنت لېږم، مخکې د دې نه چې موږ تجديد نکاح لپاره څوک را وغواړو، د دې خبرې تسلي کول غواړم چې کله د دې حديث سند دومره معتبر او ثقه راويانو نه ډک دی، نو بيا ابن مبارک دې حديث متعلق "لم يثبت" ولې فرمايلي دي؟
سهيل په خندا کې ووېل (ځکه چې د واده فوايد ورته په نظر راتلل) د حضرت عبد الله ابن مبارک دا جرحه مبهمه ده، چې د اصول حديث په اعتبار سره مردوده ده. (الکفايه، مقدمه ابن صلاح، شرح نخبة)
ولې تا په دې غور او فکر نه دی کړی، چې امام ترمذي رحمة الله عليه دې حديث ته حسن ويلي دي، ځکه چې امام ترمذي د ابن مبارک د جرمې اعتبار نه دی کړی.
او بيا تا په دې خبره چېرته سوچ کړی دی که د چا صرف له يثبت ويلو سره حديث مردود کېدو، نو په همدغه ترمذي باب ما جاء ان الامام ضامن کې امام علي بن المديني فرمايي: له يثبت حديث ابو صالح، نو لکه څنګه په دې حديث کې د امام مديني له يثبت بلا دليل مقبول نه دي، همدا رنګه د ابن مبارک له يثبت بلا ديل مقبول نه دي.

واه! عجیبه خبره ده، علم دې ته وايي.
(د ناوې د خولې نه بې اختیاره ووتل)
دومره خبره بس نه ده (سهیل وویل) بلکې اصل خبره داده چې کله دا حدیث ابن مبارک رحمة الله علیه ته په صحیح سند سره نه و رسېدلی، نو هغوی ځکه له یثبت فرمایلي وو چې امام ترمذي نقل کړی و او بیا یې پرې رد هم کړی و، خو چې کله ابن مبارک رحمة الله علیه کوفې ته لاړو او د سفیان ثوري رحمة الله علیه په مجلسِ حدیث کې کېناستو او دا حدیث یې په صحیح سند سره واورېدو، نو چې کله خپل وطن ته بېرته واپس راغی، نو دا حدیث یې بیا په خپل سند سره نقل کړو.
ایا ابن مبارک دا حدیث په خپل سند سره نقل کړی دی؟ (ناوې وویل)
هو جي! (سهیل وویل) امام نسایي په سنن نسایي کې دا روایت نقل کړی دی.
الله تعالی دې غیر مقلدین تباه او برباد کړي چې په دروغو باندې دروغ تړي او خلک گمراه کوي. ناوې په غوسه کې وویل بس کړه زړگیه! د هغوی ټول پټ رازونه دې څرگند کړل، که زما او ستا دغه خبرې د خلکو مخې ته راشي نو په زرگونو خلک به هدایت بیا مومي.
یا الله تعالی! زما مور او پلار او د کورنۍ نورو خلکو ته هم هدایت نصیب کړې (دې خبرې کولو سره د ناوې د سترگو نه د اوښکو قطار شروع شو).
اوس.... اوس.... ناوې دا وویل او نوره چپه شوه.

اوس څه پاتې شول؟ (سهیل وویل)
هیڅ هم نه گرانه! اوس د تجدید نکاح لپاره یو عالم را وغواړو،
سبحان الله زما قسمت! (سهیل منځ کې وویل)
نو څوک را وغواړم؟
گرانه! خپل ملگری (راوله)
هغه ملگری چې وسپنه خرڅوي؟
هو جي! ناوې وویل، خو بیا داسې مه وایه.
تاته څه پته ده؟
(څه مطلب؟ سهیل وویل)
مطلب دا چې ستا ملگری غټ عالم دی او چې د چا شاگرد دی، غیر مقلدین په خپلو کې د هغه د علم اعتراف او اقرار کولو او د هغه د مقابلې طاقت یې نه درلودو. دې وجې نه بیا د هغه نوم په ادب سره اخله، که تا د هغه سره ملگرتیا نه وی، نو نن به زما او ستا لارې جدا جدا وی.
صحیح دې وویل (سهیل ناوې ته وویل)
ښځې! دا دی مولانا صاحب تشریف راوړو.
حضرت تاسو دلته کېنئ... (ناوې وویل)
نکاح ترلو نه وروستو مجلس ختم شو، د شپې دوه بجې وې، ناوې دې سوچ کې وه چې د نن ورځې ادا او د تېرو شویو قضا راگرځول پکار دي او بل خوا سهیل په سوچ کې و، چې پیغمبر علیه السلام په امت کې به اضافه څنگه وشي، دواړه په دې سوچونو کې ډوب وو، چې واپډې والا بجلي بنده کړه، نو بیا د برق بندولو ضرورت پېښ نه شو یو طرف باندې کوروالي نه

وروستو سهیل وویل، چې اوس طرف بدل کړه، چې د قوم لوط یاد تازه شي، ناوې وویل چې دې (یعنې شا ته طرف نه کولو) سره گناه کېږي!

په بخاري شریف باندې عمل کولو سره گناه کېږي؟

(سهیل وویل)

ولې دا په بخاري شریف کې دي؟ (ناوې وویل)

هو جي! (سهیل وویل)

گرانه پرېږده یې چې کله ما هغه مسلک پرېښودو نو د هغوی مسئلې ولې په ما را الگوې؟ ښه نو بیا به د رفع الرجلینل (پښې اوچتول) په طریقه عمل وکړو؟ (سهیل وویل)

ولې د دې مبارک عمل نورې هم طریقې شته؟

(ناوې وویل)

تا د ابن تیمیه نوم نه دی اورېدلی؟ (سهیل وویل)

اورېدلی مې دی هغه خو ډېر غټ عالم دی، هغه شیخ الاسلام ویل کېږي، غیر مقلدین هغه خپل امام او مشر مني... (ناوې وویل)

واوره! ستاسو شیخ الاسلام د جمهورو علماوو نه جدا لارې اختیار کړې دي، هغه د اهل السنت نه کټ شوی دی، ډېر خلک یې د اهل السنت نه خارج گڼي، بحث بیا شروع شو، مقصد اوس پاتې کېږي خو صرف یو څو خبرې د هغه درته بیانوم:

(۱)- د ټولو اهل السنت والجماعت اتفاق او اجماع ده چې د یو مجلس درې طلاقین درې شمارل کېږي، خو ابن تیمیه ددې نه انکار کوي او په دې مسئله کې هغه د یهودو او شیعه گانو تقلید کوي. همدغه وجه ده چې نن سبا زمانه کې غیر مقلدین هم د

یهودو او د شیعه ګانو تقلید شروع کړی دی.
(۲)- د جمهورو اهل السنت والجماعت اتفاق دی، چې د انبیاوو علیهم السلام او صحابه وو کرامو رضي الله عنهم په وسیلې سره دعا غوښتل جایز دي، خو ابن تیمیه انکار کوي.
(۳)- د حضور صلی الله علیه وسلم د روضه اقدس مبارک د زیارت په نیت سره سفر کول د جمهورو اهل السنت والجماعت په نزد جایز دي، بلکې یو مبارک عمل دی، خو ابن تیمیه دې ته ناجایز وایي.
(۴)- لفظ الله، الله سره ذکر کول جایز دي، د اهل سنتو په نزد، خو ابن تیمیه ورته ناجایز وایي.
(۵)- د اهل السنت عقیده ده.... (سهیل وویل)
ناوې په حیرانتیا سره وویل دا خبرې خو ماته لومړیځل ښکاره شوې داسې غلط عقاید خو د غیر مقلدینو هم نه وو.
ولې نه؟ (سهیل منځ کې وویل) خو هغوی هر چاته نه ښکاره کوي، بیا خو خلک ترینه تښتي.
سهیل وویل.... ته د ابن تیمیه شاګرد ابن قیم پېژنې؟
هو جي! هغه خو ډېر لوی عالم و د هغوی خو ډېر تصنیفات دي، د ابن تیمیه په شاګردانو کې د هغوی برابر څوک نشته.
ابن قیم د خپل استاذ وکالت بغیر د څه معاوضې نه وکړو، د هغه (ابن تیمیه) ټول غلط عقاید یې د دلایلو نه د ثابتولو کوښښ وکړ، خو ناکامه شو.
ښه؟؟.... ناوې په حیرانتیا سره وویل چې دومره غټ خلک دومره غلطې عقیدې ولې لري؟

اصل خبره داده چې د انسان په خپلو اکابرو باندې اعتماد ختم شي او د خپل عقل خبره مني، نو هغه د سمې لارې نه گمراه کېږي.
یا الله جل جلاله ستا شکر دی... (ناوې وویل) زما مور او پلار زما واده تا سره د دنیاي تمې او حرص له وجې نه وکړو او زه په سمه لاره راغلم که داسې نه وو شوي نو ما به څومره اهل علم حضراتو، بزرگانو او فقهاوو ته غلط نسبتونه کول او خپل غلط عقاید به مې حق گڼل او په دې عقاید و به مې ضد کولو.
تا د ابن تیمیه څه کتاب مطالعه کړی دی؟ (سهیل د خندا انداز کې وویل)
هو جي! (ناوې وویل) خو د هغه کتاب کوم چې د سیرت النبي صلی الله علیه و علی آله وسلم متعلق دی هغه خو ډېر ښکلی او تحقیقي کتاب دی.
هغه کوم یو دی؟ سهیل د تجاهل عارفانه (یعنې د پوهېدلو باوجود ځان جاهل ښکاره کولو) طریقه اختیاره کړه، زادالمعاد في سیرة خیر العباد (ناوې وویل)
هو جي! ښځې! علامه ابن قیم په دې کتاب کې د ښځې سره د کوروالي کولو څلور طریقې لیکلي دي، خو زما ملگری، چې زه ورته د وسپنې خرخوونکی وایم او ته د هغه د ادب کولو حکم کوې، هغه وایي چې د دې مبارک عمل شپېته طریقې دي.
اف خدایا.... څه؟ شپېته طریقې دي؟
(ناوې وویل)
هو جي! (سهیل وویل)
که ته د خپل ملگري تقلید کوې نو د نن نه درته د څلورو ودونو

اجازت دی (زه به درنه ځم) نو بیا ستا خوښه ده که شپېته طریقې ورسره کوې او که نورې هم زیاتې او که صرف ما سره ژوند تیرول غواړې، نو بیا د ابن قیم په څلورو طریقو خبره وکړه.
عجیبه خبره ده (سهیل په خوشالۍ کې وویل)
ښه دویمه طریقه ابن قیم د رفع الرجلین والا لیکلې ده، نو اوس رفع الرجلین وکړه (پښې اوچتې کړه).
بیا څه وو..... بس په کوټې کې یو شور غوښدې وو، لکه چې زلزله وي.

## شپږمه شپه

(سهیل ویل) د نکاح د تاریخ مقررولو نه وروستو چې کله نکاح وشوه او بیا کومې خوشالۍ د نکاح نه وروستو د خاورو سره خاورې شوې، د دویم نکاح نه وروستو هغه خوشالیانې اوس ډېرې زیاتې دي، ځکه چې اوس دوه خوشالۍ جمع دي (او هلته یوه وه)

ناوې ویل: خبره ستا په ګل بدله ده خو د دوو خوشالیانو څه مطلب؟

لومړۍ خوشالي: ستا ګمراهۍ نه په هدایت راتلل، مسلک باطل پرېښودل او حق قبلول او دویمه خوشالي د ابن قیم والا طریقه (رفع الرجلین) اختیارول.

سهیل ویل... ښځې! حق خبره منل د جنتي انسان نښاني ده او سره د پوهې نه په حق خبره اعتراض کول د جهنمي خلکو علامت دی.

خو د یوې خبرې تپوس کوم؟ (ناوې ویل)

یو نه، د لکونو خبرو تپوس خو وکړه (سهیل ویل)

ناوې ویل هغه خو ماته معلومه ده چې د کومو خلکو سره ستا تعلق دی، هغه د علم داسې غرونه دي چې د هغوی نه په کروړونو

سوالونه وکړای شي، نو په یو ځای به د ټولو جواب درکړي.
څه؟ څه؟ (سهیل په حیرانتیا سره تپوس وکړو)
صحیح خبره کوم، د غیر مقلدینو علماء، مفتان، محدثین، مفسرین، مصنفین او مناظرین چې کله د اکاړوي صاحب نوم واوري، نو خولې یې وچې شي او قلمونه یې بند شي.
خو سهیله! ته دا ووایه چې دومره د اهل حدیثو مخالفت ولې کوې؟
ښځې! خبره دا نه ده زه صرف د اهل حدیثو مخالف نه یم، بلکې زه خو د اهل قرآن هم مخالف یم او دا ستاسو د قول مطابق د شیخ القرآن د جماعت اشاعت التوحید والسنت هم مخالف یم.
د اهل قرآن خو اهل حدیث هم مخالف دي. (ناوې سمدستي ووېل)
ولې مخالف دي؟ ولې دا قرآن کریم څه غلط څیز دی؟ (سهیل ووېل)
نه! قرآن کریم غلط څیز نه دی، خو اهل قرآن دا نوم د قرآن اخلي او په قرآن کریم باندې دروغ تړي.
قرآن کریم د حدیثو مقابله کې ودروي او د حدیثو انکار کوي.
(ناوې ووېل)
بس! بس! ښځې خبره ښکاره شوه، همدا رنګه غیر مقلدین نوم د حدیثو اخلي او په حدیثو دروغ تړي، حدیث د فقهې مقابل ودروي او د فقهې نه انکار کوي، ستا غوسه د هغوی (غیرو مقلدینو) خلاف صحیح ده ډېرې اسانې طریقې سره دې خبره واضحه کړه (ناوې ووېل)

خو دا اشاعت التوحید والسنة څه بلا ده؟

(ناوې ووېل)

قربان! دا هم د غیر مقلدینو یوه څانګه ده، خو د عوامو د وکه کولو لپاره خپل ځان ته دیوبندي وايي.

ولې د (اشاعت والا) دیوبندیان نه دي؟

په حیرانتیا سره (ناوې ووېل)

نه! بالکل نه! دیوبندیان څه کوي، دا خو د اهل السنت والجماعت نه هم خارج دي.

هغه څنګه؟ (ناوې ووېل)

ځکه چې هغوی د قرآن کریم او حدیث شریف نوم اخلي او دروغ وايي او د اهل السنت د اجماعي او اتفاقي عقیدې نه انکار کوي.

(سهیل ووېل)

ښځې واوره! د اهل السنت والجماعت اتفاقي عقیده ده، چې ټول پیغمبران علیهم السلام پس له مرګه په خپلو قبرونو کې په جسد عنصري (هغه بدن چې په دنیا کې و، چې هغه د عناصر اربعه: ابو، هواء، اور او خاورو نه جوړ دی) سره په تعلق د روح سره ژوندي دي او بیا خصوصاً امام الانبیاء صلی الله علیه و علی آله وسلم، که څوک مسلمان د روضه اقدس نه لرې درود شریف ووايي، نو فرښتې هغه درود د حضور علیه السلام په حضور کې پیش کوي او که څوک پخپله روضې ته ولاړ شي او د نږدې نه درود شریف ووايي، نو پیغمبر علیه السلام یې پخپله اوري.

د اهل السنت والجماعت دا عقیده د قرآن کریم او حدیثو شریفو نه ثابته ده؟ (ناوې تپوس وکړو)

هو جي! (سهيل وويل) د اهل السنت والجماعت د ټولو علماوو که هغه حنفيان دي، که مالکيان دي، که شوافع دي او که حنبليان دي د ټولو په دې عقيده باندې اتفاق دی او که تسلي کول غواړې، نو د مولانا خليل احمد سهارنپوري رحمة الله عليه تصنيف (عقايد علمايې ديوبند) او د مفتي عبد الشکور ترمذي رحمة الله عليه خلاصه عقايد علماء ديوبند وګوره.
او که ډېر زيات تفصيل غواړې نو د امام اهل سنت محدث کبير مفسر اعظم، فقيه د خپل وخت، حضرت مولانا محمد سرفراز خان صفدر صاحب، تسکين الصدور مطالعه وکړه. (چې د شپې په تياره کې درته لمر ښکاره شي)
او د مولانا نور محمد تونسوي صاحب د کتاب "قبر کی زندگی اور عذاب قبر کی صحيح صورت کی منکر کا شرعی حکم" مطالعه هم وکړه هغوی خو وايي چې موږ سره په خپلې عقيدې باندې د قرآن کريم اويا ايتونه او اتلس احاديث موجود دي.
(ناوې وويل)
هو جي! لکه څنګه د غيرو مقلدينو دروغ د ورځې په شان ښکاره شول تاته، همدا رنګه به د دوی دروغ د څوارلسم د سپوږمۍ په شان واضح شي، موږ د دوی نه څو څو ځله مطالبه کړې ده، چې تاسو په خپلې عقيدې باندې يو د قرآن کريم ايت يا حديث شريف پيش کړئ چې د هغه تفسير او تشريح سني حنفي مفسر يا محدث (چې مسلمان وي) کړې وي او د هغه نه ستاسو عقيده ثابتيږي، نن شل کاله وروستو هم دوی پيش نه کړی شو، موږ د هغوی مولانا عنايت الله او امير مولانا طيب پنج پيري ته د

مناظرې چیلنج ورکړی و خو یو هم قبول نه کړو، یو ځل د هغوی علامه سعید احمد ملتاني مناظره کړې وه خو د خپل جماعت ټولو خلکو ورته کنځل کول، یو ایت یې هم نه وو پیش کړی اوس هغه یو کتاب لیکلی دی چې د هغه نوم دی "کتاب مقدس اور محدث بخاري" په دې کتاب کې ملتاني صاحب ډېره ګنده ژبه استعمال کړې ده د امام بخاري نوم یې په ډېره بې ادبۍ سره اخیستی دی، ځای پر ځای کې د حدیث انکار کوي او وایي چې دا مسئله په قرآن کریم کې داسې ده، خو بخاري شریف د لعنتي راویانو نه متاسره شوی دی ځکه یې دا حدیث د قرآن کریم خلاف نقل کړی دی، نور هم دا کتاب د ډېرو کنځلو او غلطو خبرو نه ډک دی. (سهیل وویل)

رښتیا دا خلک د دې قابل دي چې د دوی نه نفرت وکړی شي (چې دومره ګنده عقیده لري)

که اسلامي حکومت وی، نو په دوی کې بعضو ته د دې ګستاخانه لیکلو او بیانونو کولو په وجه د مرګ سزا ملاو شوې و او بعضو ته د تعزیر نوره سزا (ناوې وویل)

ددې خبرې سره ناوې یو بل سوال وکړو؟

زړګیه! ایا تقلید ضروري دی؟ زړګیه! اوس مې حق مسلک قبول کړی دی، له دې وجې نه په خبره به ما پوهوې خو غوسه به نه کوې.

غوسه خو راځي (سهیل وویل) ځکه چې امام شافعي رحمة الله علیه فرمایي چې چاته غوسه نه ورځي هغه خر دی او کوم څوک چې په معافۍ غوښتلو سره څوک معاف نکړي هغه شیطان دی،

نو ستا په سوال باندې غوسه راتلل خو یو فطري او طبعي کار دی، دې کې زما اختیار نشته خو ته حق خبره منې، دې وجې نه زه بیا غوسه ختمه کړم.
(تا د تقلید تپوس وکړو) نو اول د تقلید معنی او تعریف وکړه (سهیل ووېل)
د قرآن کریم او حدیث شریف په مقابله کې د بل چا خبره منل (دې ته تقلید وایي) ناوې جواب ورکړو.
سهیل ډېر په غوسه کې ووېل: "لعنة الله علی الکاذبین" چا چې تاته دا تعریف ښودلی دی، په هغه دې د الله تعالی لعنت وي.
نو بیا د تقلید تعریف ته وکړه (ناوې ووېل)
لېونۍ واوره! د یو لوی عالم، ماهر شریعت، متقي او پرهېزگاره خبره باندې اعتماد کول او د هغه خبره په دې ښه گومان سره منل، چې هغه به دا دلیل او شریعت مطابق را ښایي خو د هغه نه د دلیل مطالبه نه کول، همدغه طریقه د صحابه وو او تابعینو په زمانه کې جاري وه، د حدیثو مشهور کتاب "مصنف عبدالرزاق، کتاب الاثار لابي حنیفة" (په روایت د امام ابویوسف او امام محمد) کې د صحابه وو او تابعینو په زرگونو نه، بلکې په لکونو فتوې موجودې دي، چې چا به تپوس وکړو، صحابي به جواب ورکړو، یا تابعي به جواب ورکړو او بس! نه سایل د دلیل مطالبه کړې ده او نه مفتي دلیل بیان کړی دی، اوس ټول امت په همدغه طریقې سره عمل کوي او هم دې ته تقلید وایي.
ډېر ښه! نن حق خبره څرگنده شوه چې تقلید څه ته وایي (ناوې ووېل)

خو په لغت کې دا معنی نشته، په لغت کې د تقلید معنی ده "غاړې ته پټۍ اچول" او پټۍ د سپي غاړې ته اچول کېږي. (ناوې وويل)

خپل لغت د خپل ځان سره کېږده، سهیل په غوسه کې وويل که د اعمال صالحه تشریح په لغت سره شروع کړې،نو ټول اعمال به برياد کړې.

(او کوم صورت او شکل یې په شریعت کې مطلوب دی هغه به ختم شي او د عباداتو نه به یوه لوبه جوړه شي)

ناوې.... هغه څنګه؟

واوره جاهلې!

(۱)- لمونځ ته په عربي کې "صلوة" وايي او په لغت د صلوة معنی تحریک صلوین کېږي، او د تحریک صلوین مطلب کوناټو (Hips) خوځولو ته وايي، د دې لغوي معنی په اعتبار سره د نن سبا زماني ګډ اګانې او بنګړې ټولې په لمونځ او عبات کې داخلې دي، که چېرته نرګس دا چیلنج ورکړو چې د ټولو نه زیات لمونځونه زه کوم نو د دې چیلنج ماتول د اهل حدیثو د وس او طاقت خبره نه ده، ځکه چې دا ستاسو د علماوو احسان الهي ظهیر، عبدالله روپړي، اثري، شمشاد سلفي، بدیع الدین پیر جهنډا، نذیر حسین دهلوي او غزنوي د کور زنانه وو ټول عمر چېرته لمونځ نه دی کړی دغه ستاسو علماء به یې کله د جومات نه راغلل او تپوس به یې وکړو د زنانه وو نه چې لمونځ مو وکړو؟

نو د هغوی ښځو به په ناسته کوناټي وخوځول او ويل به یې چې هو لمونځ مو کړی دی (سهیل په غوسه کې وويل)

زرګیه! مهرباني وکړه بس کړه، نورې خبرې به راتلونکې شپې ته وکړو، شپه لږه پاتې ده سهار کېږي، د واده چې کوم مقصد دی هغه به هم کوو کنه! دې خبرې اورېد و سره سهیل ډېر خوشاله شو، د بجلۍ په تلو کې یو څو منټه پاتې وو او د دوی موضوع د خبرو نه عملي کار طرف ته منتقل کېده، چې په دې کې بجلي لاړه او بیا.......!!!

# اوومه شپه

سهیل کوټې ته د داخلید و سره وویل: واه! ابن قیمه! که یو څو طریقې دې نورې هم لیکلی وی نو خلکو به درته دعاګانې کولی.
خیر! اوس به هم هغه دعاګانې ستا ملګري اخلي، ځکه ې هغه شپېته طریقې ښایي (ناوې وویل)
.... د لمونځ لغوي معنی ډېره خطرناکه ده زړګیه! خو ایا د زکات لغوي معنی هم دغسې ده؟
هو جي! زکات لغت کې پاکۍ او صفایۍ ته وایي، زکات د مال خیری دی، ځکه سیدانو ته ورکول منع دي، نو اوس که د زکات لغوي معنی را واخلې نو څوک به په خپل کور کې جارو ووهي بیا به وایي چې ما زکات ادا کړی دی، څوک به د دوکان یا کارخانې صفایي وکړي او بیا به وایي چې ما زکات ادا کړی دی. څوک به کوناټي ووینځي او وایي به چې ما زکات ورکړی دی، د دې نه به د اسلام ټول نظام باطل شي.
روژې ته په عربۍ کې "صوم" وایي په لغت د صوم معنی ده، یوه لحظه (مثلاً شل منټه) د خوراک څښاک او جماعت نه منع کېدل، په دې اعتبار سره خو به هر انسان ځان ته روژه دار وایي، سره د دې نه چې خوراک څښاک او جماع به هم کوي (خو لږ

غوندې وخت يو پنځه منټه به پابندي کوي)
د حج لغوي معنى اراده کول دي، يو غير مقلد به د خپل دفتر اراده کوي او وايي به چې ما حج کړی دی، څوک به د دوکان اراده کي او وايي به چې ما حج وکړو، څوک محمد جونا ګړهي په شان پوخ غير مقلد به د منې د خوړولو اراده کوي او وايي به چې ما حج کړی دی.
اف الله تعالی! (ناوې وويل) زړګيه ته ما په مسئله پوهه کړه، د چا نوم اخيستل او چاته بد رد ويل ماته خوند نه راکوي.
سهيل وويل: ما خو داسې څه خبره نه ده کړې؟
ولې نه! اوس دې د محمد جونا ګړهي متعلق څومره ناولې خبره وکړه، پخپله ته ووايه چې کوم څيز ته انسان لاس لګول نه خوښوي، د هغه ليدل نه غواړي نو د هغه د خوراک خبره کول
اخ.... اخ.... تو..... تو......
څومره غلطه خبره ده، ناوې (په غوسه کې وويل)
ښځې واوره! ايا دچا مسلک بيانول جرم دی؟
ولې موږ وايو نه چې يهوديان او عيسايان د خنزير غوښه خوري او بعضې خلک د ځناورو خوټې خوري.
دا ټولې خبرې صحيح دي، ناوې په سختۍ سره وويل.
په دې کې د حرمت او ملت مسئله د هر مذهب خپله ده خو د ماده (منې) د يهوديانو او عيسايانو په نزد هم حلاله نه ده، بيا ته داسې خبره ولې کوې؟
زه تا په هم دغه خبره پوهه کول غواړم، چې د غير مقلدينو په شان ګنده مسلک د يهوديانو او نصاراوو هم نه دی، محمد جوناګړهي

لیکي: "چې مني پاک دي او په یو قول کې یې خوړل هم جایز دي" دا هغه لیکلي دي اوس زه هغه ته دا مشوره نه ورکوم، چې دا (مني) نه قلفي یا ایسکریم جوړ کړه او خوره یې... ماته دا حق نشته ځکه چې دا د هغه خپل مسلک دی.
هغه ته د خپل مسلک مطابق هر رنګه د خوړولو اختیار شته.
"استغفرالله، لا حول ولا قوة" د ناوې په ژبه مسلسل استغفار جاري وو او ویل یې که دغه خرافات او ګنده خبرې یې لیکلې وي نو زه په دوی او د دوی په مسلک باندې ه کروړونو واړ لعنت لېږم، نورې خبرې پرېږده، خو صرف دا ووایه چې چېرته په قرآن کریم او حدیث شریف کې د تقلید لفظ راغلی دی؟ او بس!
ښځې د غوسې خبره نه ده، په مسئله ځان پوهه کړه، لکه څرنګه چې په پوره قرآن کریم کې د توحید لفظ نه دی راغلی بیا هم موږ توحید منو او خلکو ته د توحید د عوت ورکوو.
ایا په قرآن کریم کې د توحید لفظ نشته؟ (ناوې د شرم په انداز کې وویل)
نه! بالکل نشته!
نو بیا موږ توحید د کوم ځای نه ثابتوو؟
ښځې غوږ ونیسه! په قرآن کریم کې د "احد" لفظ شته او د "واحد" لفظ هم شته، په لفظ احد او واحد کې چې کومه ماده ده هم هغه ماده په لفظ توحید کې ده، دې نه معلومه شوه چې د لفظ توحید اصل د قرآن کریم نه ثابت دی.
نو هم دا رنګه لفظ "قلائد" په قرآن کریم او حدیثو شریفو کې شته او لفظ "قلاده" ډېرو ځایونو کې راغلی دی او هم دغه لفظ نه

لفظ تقلید جوړ شوی دی او د تقلید دوه معنی کېږي:
(۱)- پټې چې کومه د سپي یا د بل ځناور په غاړه کې اچول کېږي.
(۲)- د ګلونو هار او امېل چې کوم د انسان په غاړه کې د ښایست لپاره اچول کېږي.
موږ خو انسانان یو، ځکه موږ د انسانانو والا معنی د تقلید کوو او مخالف غیر مقلدین د سپي د پټې معنی کوي (هر سړی د خپل شان مطابق معنی کوي)
په مشکوة شریف کې حدیث دی چې نااهله، ناپوهه، کم عقل او بیوقوفه انسان ته یوه علمي خبره ښودل داسې دي لکه د سرو سپینو زرو او د جواهراتو امېل د خنزیر په غاړه کې واچوې، دې نه معلومه شوه چې تقلید څه عام امېل ته نه وایي بلکې تقلید د سرو او سپینو زرو او د جواهراتو قیمتي امېل ته وایي، نو ځکه دغه امېل د غیر مقلد، خنزیر او سپي په غاړه کې نشي اچولی (بلکې دا یو قیمتي انسان ته اچول کېږي، چې هغه مقلد دی)
په حدیث شریف کې د حضرت عایشه رضي الله عنها، حضرت اسماء رضي الله عنها او د نورو صحابیاتو امېلونه په لفظ قلاده سره ذکر شوي دي نو هلته به څه معنی کوې؟ (سهیل وویل)
واه عجیبه خبره ده (ناوې وویل) ستا خبرې په سرو زرو د لیکلو حقداري دي.
خبره څومره مشکله وي خو ته ما په ډېر اسان او ښکلي انداز کې پوهوې، ځکه چې دا مسئله باندې تر نن ورځې پورې چا پوهه نه کړم.

ښځې په دې کې زما کمال نشته، بلکې دا خو د اکاړوي رحمة الله علیه او د هغه د شاګردانو د مینې او محبت اثرات او برکات دي، تا سره خو دومره علم نشته د یر مقلدینو ټول علما او مشایخ دلته حیران پاتې کېږي او څه ځواب نشي کولای.

بس ښځې بس! اوس بله نوې مسئله مه چېړه، شپه ډېره تېره شوه سهار کېدو والا دی، د ابن قیم څلورمه طریقه زما دماغو کې ګرځي را ګرځي، بس که زړګیه! لا خو ډېر پاتې دی، د طریقو لپاره. یو دوه مسئلې نورې وشي نو ډېره به ښه وي، بس که یار! که عمر ډېر وي خو زما د ملګي هغه شپېته طریقې خو هم ډېرې دي کنه!

څه؟ (ناوې په غوسه ناکو سترګو سهیل ته وکتل) بیا داسې خبره ونکړې، که چېرته ستا دا اراده وي نو ما مخکې هم درته ویلي وو، چې بیا ځان ته څلور ودونه وکړه!

اوس دا راته ووایه چې ایا دا خبره رښتیا ده، چې امام ابوحنیفه رحمة الله علیه ته صرف اوولس حدیثونه یاد وو؟ (ناوې وویل)

ښځې ژبه بنده کړه! دا داسې دروغ دي، که په سمندر کې واچولی شي نو سمندر به تریخ شي، د رحمت فرښتې د دروغو نه لرې تښتي.

کم عقلې! کله دې دا سوچ کړی دی چې د چا په دنیا کې %۵۵ فی صده مسلمانان تقلید کوي هغه چېرته بې علمه کېدلی شي؟

د غیرو مقلدینو د مسلک بنیاد په دروغو باندې دی، کله که دوی دغه دروغ پرېښودل، نو د مسلک نوم او نښان به یې ورک شي، دې وجې نه دوی مجبور دي، چې په دروغو دروغ وایي.

ستا نه صرف يوه پوښتنه کوم (سهيل وويل) چې ملک لوی قاضي بې علمه او که عالم انسان جوړولی شي او که علم او تعليم والا؟

د ټولو نه ډېر علم او تعليم والا! (ناوې جواب ورکړو)

واوره! د جاهل لورې! د صحابه وو د دور خلافت نه وروستو د بنو اميه اخري حکمران او د خلافت عباسيه اول حکمران، دواړو دا کوښښ کړی دی چې امام ابوحنيفه د اسلامي حکومت د قاضي القضاة عهده قبوله کړي، خو امام صاحب قبوله نکړه، سزا يې هم وزغمله او جېل ته ولېږلی شو، که په هغه زمانه کې بل چاته اوولس حديثونه ياد وو نو هغوی به امام صاحب کله هم نه وو مجبور کړی، خبره خو ستا صحيح ده (ناوې وويل) خو دا خلک (غير مقلدين) داسې دعوی ولې کوي؟

دعوی نه ده دروغ وايي (سهيل وويل)

او اصل حقيقت دا دی چې د محدثينو اختلاف دی، چې امام ابوحنيفة رحمة الله عليه د صحابه وو نه بغير د واسطې نه څومره حديثونه نقل کړيدي، يو قول د دريو، بل د پنځو او بل د اوو او زيات نه زيات د اوولسو حديثونو قول دی. دا اختلاف په دې خبره کې دی چې امام اعظم د صحابه وو نه څومره روايات نقل کړي دي، خو ستاسو خلکو نوره ټوله خبره وخوړه او دا دروغ يې جوړ کړل، چې امام صاحب ته صرف اوولس حديثونه ياد وو، خو اصل خبره داده چې چاته د چا په متعلق د فيصلې کولو اختيار چا ورکړی.

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه خپل زوی ته پنځه نصيحتونه وکړل

او بیا یې وفرمایل بچیه! زما دا پنځه خبرې هر وخت یادې ساته ځکه چې دا پنځه خبرې د هغو پنځو لکو حدیثونو خلاصه ده کوم چې ماته یاد دي.

واه سهیله! څه عجیبه خبره دې وکړه ما خو دا مسئله لا ینحل (نه حل کېدونکې) ګڼله چې څوک حنفي د دې جواب نشي کولای، خو تا دومره اسانه کړه (چې یو ماشوم هم پرې پوهېږي، بس.... بس... زړګیه! ستا د علم قدر به کوم پخپله به په ځان تکلیف تیر کړم خو تا د هغو شپیتو طریقو سره کولو نه منع نه کړم.

دې خبرې کولو سره د ناوې لاس کمبلې طرف ته اوږد شو او په لږ وخت دواړه په کمبله کې سره ورک شول او بیا چې څه وشول نو....!!

# اتمه شپه

سهیل، خیر خو وو نن ستا پلار او وروڼه ټول په ګاډي کې چېرته روان وو؟
هو جي! د یو شهید غایبانه جنازې کې شرکت لپاره روان وو (ناوې وویل)
ایا دشهید میت (جسم) په عیدګاه کې موجود وو؟ (سهیل وویل)
نه! ناوې جواب ورکړو.
نو بیا به یې په خپل کور کړی وو کنه (سهیل وویل)
اوس څه ځواب درکړم تاته، ته خو په یو منټ کې انسان لا ځوابه کوې.
په دې کې خو د لا ځواب کولو خبره نشته... ځکه چې کله د جنازې لمونځ غایبانه کولو، نو د سفر ضرورت پکې څه وو؟ (سهیل وویل) او د حضور علیه السلام په زمانه کې د بئر معونه نه په جنګ کې اویا صحابه کرام شهیدان شول، ایا پیغمبر علیه السلام د چا غایبانه جنازه کړې ده؟
نه!
د حضور علیه السلام په زمانه کې یمن، مکه او بحرین کې

څو مره مسلمانان وفات شول، ایا پیغمبر علیه السلام د چا غایبانه جنازه کړې ده؟
نه! (ناوې وویل)
حضرت خبیب رضي الله عنه او د هغه نور ملګري د مکې په لاره کې کافرانو شهیدان کړل، ایا پیغمبر علیه السلام د هغوی غایبانه جنازه کړې وه؟
نه! (ناوې وویل)
په صلح حدیبیه کې چې کوم دوه صحابه ابو جندل رضي الله عنه او ابوبصیررضي الله عنه واپس کړی شوي وو او بیا ابوبصیررضي الله عنه د سمندر په غاړه وفات شو ایا پیغمبر علیه السلام د هغه لمونځ غایبانه کړی و؟
نه! ناوې ځواب ورکړو.
په غزوه موته کې د لشکر اول امیر زید بن حارثه شهید شو بیا دویم امیر جعفر بن ابي طالب شهید شو او بیا درېیم امیر عبدالله ابن رواحه شهید شو، همدا رنګه دوی سره نور صحابه هم شهیدان شول، آیا پیغمبر علیه السلام د دوی غایبانه جنازه کړې وه؟!!
ناوې په شرم سره ورو غوندې وویل... نه!..نه!
د حضرت ابوبکررضي الله عنه په دور خلافت کې د رومیانو سره جنګ وشو چې په هغه کې حضرت عکرمه رضي الله عنه شهید شو او نور مسلمانان هم شهیدان شول، ایا ابوبکررضي الله عنه د هغوی غایبانه جنازه کړې وه؟!!
(ناوې وویل) نه!

د حضـرت ابوبکررضـي الله عنـه پـه دور خلافـت کـې مختلفـو ښارونو کـې بـې شمېره مسـلمانان وفـات شـول او پـه ډېـرو جنگونـو کـې مسـلمانان شـهيدان شـول، خصوصـاً د مسـليمه کـذاب سـره پـه جنـگ کـې ايـا د وخـت خليفـه د هغـوی د جنـازې لمـونځ غايبانـه کـړی و؟؟

خليفـه وخـت حضـرت ابوبکرصـديق رضـي الله عنـه چـې کلـه پخپلـه وفـات شـو نـو ايـا د مکـې خلکـو، د يمـن خلکـو، د بحـرين خلکـو او يـا پـه بـل ښـار کـې نـورو مسـلمانانو د خليفـه وخـت غـايبانـه جنـازه کـړې ده؟؟

نه! (ناوې سترګې ښکته کړې او ويې ويل)

پيغمبر عليـه السـلام پـه خپـل ژونـد کـې صـرف پـه پنځـويشـت يـا اووه ويشـت غزاګـانو کـې شـرکت کـړی دی، چـې پـه کومـو غزاګـانو کـې پيغمبر عليـه السـلام پخپلـه شـرکت نـه وو کـړی، ايـا پـه هغـو غزاګـانو کـې د شـهيد شـويو مسـلمانانو غايبانـه جنـازه پيغمبـر عليـه السـلام کړې وه؟؟!

نـه زړګيـه! نـه! او نـور بـس کـړه. پـه مسـئلې بانـدې پـوهـه شـوم او خبـره ښکاره شوه (ناوې په خفګان کې وويل)

خبـره دومـره بـس نـه ده (سـهيل وويـل) د دويـم خليفـه حضـرت عمـر، دريـيم خليفـه حضـرت عثمـان، څلـورم خليفـه حضـرت علـي رضـي الله عنـهم او د کاتـبِ وحـي حضـرت اميـر معاويـه پـه دور خلافـت کـې بـې شـمېره جنګونـه وشـول، د اسـلامي حکومـت بـاډرې او سـرحدونه د څمکـې غـاړو سـره لګېـدل، پـه دې غزاګـانو کـې بـې شـمېره مسـلمـ شهيدان شول، ايا د وخت خليفه د هغوی غايبانه جنازه کړ ه؟؟

نه!... نه! د غیرو مقلدینو دروغ څرګند شول.
(صرف اخري خبره کوم) سهیل وویل: حضرت عمر رضي الله عنه شهید شو، حضرت عثمان رضي الله عنه شهید شو، حضرت علي رضي الله عنه شهید شو او حضرت حسین رضي الله عنه سره د ټولې کورنۍ شهید شو، ایا مسلمانانو د دوی غایبانه جنازه کړې وه؟؟!
نه! (ناوې وویل)
نو بیا ستا پلار او ورور ولې تللي وو؟؟
بس زرګیه! دا د دوی مسلک دی، دوی پوهه شه او د دوی مسلک.
د مسلک خو څه بنیاد وي دلته خو هیڅ بنیاد نشته د هرې خبرې بنیاد په دروغو باندې دی.
ناوې لږه غوندې چپه وه، بیا یې وویل زرګیه!
هغوی وایي چې حضور علیه السلام د حبشې د بادشاه نجاشي رضي الله عنه او د معاویه بن معاویه رضي الله عنه غایبانه جنازه کړې وه او وایي چې امام شافعي رحمة الله علیه هم د غایبانه جنازې قایل و.
(سهیل په غوسه کې) د بدبخت او منافق خلک (غیر مقلدین) د صحابه کرامو د بدنام کولو کوښښ کوي، ته پخپله سوچ وکړه که د غایبانه جنازې حکم پیغمبر علیه السلام ورکړی و، یا یې پخپله چېرته کړې و، نو صحابه کرامو به چېرته دا سنت پرېښودلي وو؟
هیڅ کله هم نه! دا د دې بې وقوفو خلکو (غیر مقلدینو) فیصله او خبره ده چې په دوی کې د عقل او پوهې نوم نشته او د علم نه خو هسې هم فارغ دي، (لکه چې د خر سر د ښکر نه خالي وي)

تـه پخپلـه فيصـلـه وکـړه چـې دوی (غير مقلدين) رښتيني دي او کـه صـحابه کـرام رضـي الله عـنهم؟ کـه دوی تـه رښـتيني وايـو نـو صـحابه کـرام رضـي الله عـنهم دروغـژن کېـږي او دا د عقـل نـه لـرې خبـره ده چـې څـوک صـحابه کرامـو رضـي الله عـنهم تـه دروغـژن ووايـي، دا صـرف د دوی د عقـل نقصـان او کمـی دی، چـې د "سـنت" پـه معنـی هـم نـه پـوهېږي؟ صحابه کـرام د مسـواک پـه شـان يـو سـنت پرېښـودو تـه هـم تيـار نـه وو نـو بيـا دوی دومـره لـوی عمـل پرېښـودو، دا چېرتـه کېدای شي؟

دا ټـول پـه پاګـل خانـه کـې داخلـول پکـار دي، دوی د اسـونو غوښـې خـوړلي دي، د اوښـانو متيـازې يـې څښـلي د، د منـي ايسـکري او قلفيـانې يـې څټلي دي، لـه دې وجـې نـه د دوی د ژبـې نـه صـحابه کرام هـم محفـوظ نـه دي، دا (غيـر مقلـدين) خـو د روافضـو او د شـيعه ګانو دويم قسم معلومېږي، (سهيل پـه غوسه کې وويل)

زړګيـه! غوسـې خبـره نـه ده، بلکـې خبـره پـه دليـل سـره وي، مخکـې کلـه هـم تـا داسـې نـه دي کـړي، بلکـې سمدسـتي بـه دې دليـل سـره زه چـپ کـولم، اوس معلـومېږي چـې تـا سـره د هـوی د دليـل ځـواب نشته.

سهيل، بس کـړه! ښـځې بـس کـړه! د هغـوی سره د يـوې مسـئلې دليـل هم نشته، نو بيا به د دې مسئلې دليل ورسره وي؟؟

چـې کـوم کـار ټـول عمـر صـحابه کرامـو رضـي الله عـنهم نـه دی کـړی (خبـره پـه غـور سـره اوره) حضـور صـلی الله عليـه وسـلم ټـول عمـر کلـه هـم د چـا غـايبانـه جنـازه نـه ده کـړې او نـه يـې چاتـه حکـم ورکـړی (اوس د دوی د دليل جواب واوره)

د نجاشي متعلق روايت درې صحابه وو رضي الله عنهم نقل کړي دي.
(۱)- حضرت ابوهريرة رضي الله عنه چې د هغوی وفات په ۵۹هـ کې شوی دی نو په دې اعتبار سره ابوهريرة رضي الله عنه د دې واقعې نه وروستو پنځوس کاله ژوندی و.
(۲)- حضرت جابر رضي الله عنه د دوی وفات ۷۹هـ کې شوی دی، نو دوی د نجاشي د واقعې نه وروستو اويا کاله ژوندي وو.
(۳)- حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه د دوی وفات په ۵۲هـ کې شوی دی، نو دوی د دې واقعې نه وروستو ۳۷ کاله ژوندي وو.
نو اوس دې غير مقلدين په يو صحيح سند سره ثابت کړي، چې په دې صحابه کرامو کې يو صحابي چېرته په ټول عمر کې يو ځل غايبانه جنازه کړې وي او بيا د نجاشي جنازه غايبانه نه وه، بلکې د نجاشي د جنازې کټ پيغمبر عليه السلام ته ښکارېدو او دا د نجاشي خصوصيت و، علامه واحدي په اسباب النزول کې ليکي:
"کشف للنبي صلى الله عليه وسلم عن سرير النجاشي حتى راه و صلى عليه" پيغمبر عليه السلام ته د ځمکې پردې لرې کړی شوی او د نجاشي کټ، يعنې جنازه پيغمبر عليه السلام ته ښکارېده، ځکه پيغمبر عليه السلام جنازې لمونځ پرې کړی و.
صحيح ابن حبان او صحيح ابن عوانه کې روايت دی، صحابه کرام رضي الله عنهم فرمايي چې موږ کې هر يو دا يقين کولو چې جنازه د پيغمبر عليه السلام مخامخ ده.
نو دا غايبانه جنازه وه؟ دا غايبانه جنازه وه؟ دا غايبانه جنازه وه؟

(سهيل په غوسه کې بيا بيا وويل)

زړګيه! هغوی به ويل چې زموږ دا دليل د هماليه د غره نه هم مضبوط او سخت دی، په ټوله دنيا کې د يو حنفي سره هم د دې ځواب نشته، خو تا په يو ګوزار سره ترې رانجه جوړ کړل.

خو پيغمبر عليه السلام د حضرت معاويه بن معاويه مزني رضي الله عنه جنازه کړې وه په دې حال کې چې د هغه وفات په مدينه کې شوی و او هغه وخت پيغمبر عليه السلام د تبوک په سفر کې و، نو ايا دا ښکاره دليل نه دی؟ (په غايبانه جنازه باندې) (ناوې وويل)

سهيل، ښځې ستا عقل او دماغ ولې کار نه کوي، کومو صحابه کرامو رضي الله عنهم چې په تبوک د پيغمبر عليه السلام دا فعل وليد و، هغوی بيا چېرته په دې عمر کړی دی؟!

نه! (ناوې جواب ورکړو)

اخر ولې؟ (سهيل وويل)

د دې واقعې راوي حضرت انس رضي الله عنه دی د دوی وفات په ۹۳هـ کې شوی دی او دا واقعه په ۹هـ کې شوې وه، نو په دې اعتبار سره حضرت انس رضي الله عنه دا د واقعې نه وروستو ۸۴ کاله ژوندی و، دوی په ۸۴ کاله کې چېرته د صحابي يا د غير صحابي غايبانه جنازه نه ده کړې.

اخر ولې؟؟

او بيا دا جنازه، غايبانه نه وه (د نجاشي د جنازې په شان)

ځکه چې رواياتو کې وضاحت شته، چې جبرايل عليه السلام خپل وزر په ځمکه ووهلو نو ټول غرونه او غونډۍ د ځمکې سره

برابر شوې او مدينه (پيغمبر عليه السلام ته) ښکارېده، "فرفع سريره حتى نظر اليه فصلى" د جنازې کټ مخامخ ښکارېد و ځکه يې د جنازې لمونځ پرې کړی و. په يو روايت کې :ي چې ځمکه لا نغښتلی شوې وه، ايا دې ته غايبانه وايي؟ ايا دې ته غايبانه وايي؟

بقي امام شافعي رحمة الله عليه په شهيد باندې د جنازې کولو بالکل قايل نه دی، جنازه مخامخ وي بيا هم وايي چې په شهيد به جنازه نه کېږي او چې په نظر نه راځي بيا خو ډېره لرې خبره ده چې امام شافعي يې قايل وي.

دا په امام شافعي رحمة الله عليه باندې بهتان او دروغ تړي، "لعنت الله على الکاذبين" په دروغژنو دې د الله تعالى لعنت وي او دا خبره اوس واوره (ځکه چې بيا تپوس کوې) چې دوی دا غايبانه جنازې ولې کوي؟ ځکه چې د دوی کار دا دی چې کوم کار اهل السنت نه کوي، دوی به هغه کار خامخا کوي، لکه:

(۱)- د اهل السنت په نزد د چرګې قرباني جايز نه ده، خو د غير مقلدينو په نزد جايز ده.

(۲)- د اهل السنت په نزد د هګۍ قرباني نه جايز ده او نه يې څوک کوي، خو غير مقلدين وايي چې جايز ده.

(۳)- اهل السنت والجماعت د اس غوښه نه خوري او د اس قرباني جايزه نه ګڼي، خو غير مقلدين د اس قرباني جايزه ګڼي او کوي يې.

(۴)- اهل السنت مني ته ناپاک او حرام وايي خو غير مقلدين يې حلاله او پاکه ګڼي.

(۵)- اهل السنت د اوښانو متیازې ناپاکې ګڼي، خو د دوی په نزد یې څښل جایز دي، ځکه چې په بخاري شریف کې روایت موجود دی.
(٦)- د اهل السنت په نزد د نوم نه تر زنګنونو پورې بدن په ستر کې داخل دی، خو دوی وایي چې صرف د شرمګاه پټول کافي دي.
(۷)- د اهل السنت په نزد د نارینه وو او زنانه وو په لمونځ کې فرق دی، د دوی په نزد فرق پکې نشته.
(۸)- اهل السنت والجماعت تقلید ته جایز وایي او دوی ورته حرام وایي.
(۹)- اهل السنت په دبر کې جماع کولو ته حرام وایي خو غیر مقلدین ورته بهتر عمل وایي، ځکه چې بخاري شریف کې روایت موجود دی.
(۱۰)- اهل السنت درې طلاقو ته درې وایي، خو د یهودیانو او شیعه ګانو په شان غیر مقلدین د دریو طلاقو ته یو طلاق وایي.
نو دا ولې کوي؟؟ (تاوې وویل)
د دې هیڅ جواب نشته!!
بیا لپاره زما خوب خراب نکړې، دا جاهلان دي، قرآن کریم د دوی د جواب ورکولو حکمنه دی کړی، بلکې قرآن کریم یوه نسخه ښودلې ده: "اذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلاماً"
ځواب خو اهل علم ته ورکولی شي، ماهر فن چې کله د ماهر فن سره بحث کوي نو ښه ښکاري، که څوک د تیلو خرڅونکی، چمیار (موچي) یا کاریګر د ایم، بي، بي ایس ډاکټر سره بحث کوي نو خلک هغه ته پاګل او لیونی وایي، همدا رنګه چې کله

مجتهد غیر مجتهد سره بحث شروع کړي، مقلد سره غیر مقلد بحث شروع کړي نو دې ته د دنیا غټ بېوقوف ویل کېږي.
څه شان دی یار ستا د علم! (ناوې وویل)
زه خو ستا علم په حیرانتیا کې واچولم، دا خو ستا علم دی، چې ستاسو د اکاړوي رحمة الله علیه به څومره علم وي، چې څوارلسمه پېړۍ کې د اکاړوي رحمة الله علیه دومره پوخ او مضبوط دی، نو په خیر القرون کې د امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه به څومره مضبوط علم و، رښتیا د دوی حق جوړېږي، چې د دوی تقلید وکړای شي.
موږ هسې بغیر د څه دلیل نه حنفیان نه یو جوړ شوي (سهیل وویل) د امام اعظم صاحب علم، د دلایلو قوت، تقوی، پرهېزګاري، عقل او پوهه کې کمال، د قرآن کریم او حدیثو شریفو په علومو کې مهارت، ناسخ او منسوخ باندې علم، د صحابه وو سره ملاقات او کتنه او بیا دهغوی نه روایت کول دا ټول څیزونه موږ کتلي دي، دې نه وروستو بیا موږ حنفیان شوي یو، د الله تعالی په فضل سره زموږ دلایل تر قیامته پورې نشي ماتولی.
بس که سهیله! خبرې ډېرې شوې دې خبرې کولو سره ناوې سهیل په خپله سینه را وغورځولو، برق یې بند کړو او ویې ویل چې زړګیه! نن به کومه طریقه کوو؟
د ابن قیم اخري طریقه (سهیل وویل)
بیا دواړه په خندا خندا کې یو "راکب" او بل "مرکوب" شو.

# نهمه شپه

سهیل کوټې ته داخل شو نو ناوې ووېل، خیر خو وو نن دې دومره ناوخته ولې کړو؟

بس پرېږده دا خبرې! په دنیا کې یوه ته لېونی نه یې، نور هم ډېر لېونیان شته، هغه د سکندر پته درته شته؟

څوک سکندر؟؟ (ناوې پوښتنه وکړه)

ستا ورور نور څوک؟؟

هغه جاهل هم په امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه باندې اعتراضونه کوي که چېرته ستا سره مې خپلولي نه وی، نو د هغه غاښونه مې ماتول.

دومره غوسه؟؟ (ناوې ووېل)

غوسه خو به راځي، ځکه چې داسې یو انسان چې هغه د عربي ژبې د الف، با نه خبر نه وي، د استنجاء په چل نه پوهېږي او ستري مشي داسې کوي لکه د امریکې تېر شوی بادشاه "بل کلنټن" د پاکستان د بادشاه "رفیق تارړ سره کړي وو" (یعنې په یو لاس سره) او خپل نوم نشي لیکلی (او اعتراضونه په امام صاحب کوي)

ولې زما ورور نوم نشي لیکلی؟ (ناوې ووېل)

هو جي! ما ورته وويل چې حسن او حسين وليکه، هغه حصن او حصين وليکل، د مَحْرَم او مُحْرِم فرق نشي کولای، تول ورځ د بازاري جينکو سره ګرځي، د فرحت هاشمي تعريف داسې کوي لکه چې مور يې وي.

شوي څه دي؟ (ناوې وويل) او لاس يې شاته کېښود و ما پرېږده (سهيل وويل) زما په محنت سره تاته هدايت ملا و شو، دومره کافي ده، ته پوهه شه او ستا کورنۍ، تول دې جهنم ته لاړ شي هغوی ته ووايه چې ما سره دې بحث نه کوي.

او که بحث کولو شوق يې وي نو لومړی دې علم حاصل کړي، پنځلس سوه کتابونو کې علم حديث ليکلی شوی دی، د هغو مطالعه دې وکړي، صرف د بخاري شريف په نوم اخيستلو سره کار نه کېږي، ځکه چې په بخاري شريف باندې تاسو (غير مقلدين) پخپله عمل نه کوئ.

ناوې، سکندر درته څه ويلي دي، چې ته دومره په غوسه يې؟ (او غوسه په قابو کې نشې راوستلی)

واوره! د هغه بکواس او ګنده خبرې! ويل يې چې امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په عربي نه پوهېدو، د حديثو شريفو علم ورسره ډېر لږ و، حلال به يې حرامول او حرام به يې حلالول، د هغه (امام) په فقه ګڼ مسايل دي، د هغه خو خپلو شاګردانو هم اختلاف کړی، د فقه د کتابون، هدايه او قدوري څه سند نشته، ابوحنيفه رحمة الله عليه د خپلې ښځې حقوق نه دي ادا کړي، ابوحنيفه رحمة الله عليه به (د حلالو حرامولو او حرام حلالو لپاره) حيلې کولې، داسې ګنده خبرې چېرته شيطان هم نه دي

کړي.

را وغواړه هغه! (سهیل په غوسه کې ووېل)

زړګیه! اوس یې درته حاضروم... دا دی راغلو سکندر.

تا کله په خپله فقه باندې هم غور چېرته کړی دی؟

او دا دې کتلي دي چې د هغې مسایل څنګه او د کوم ځای نه راغلي دي؟

که در مختار په مقابله (تاسو وحید الزمان) نزل الابرار من فقه نبي المختار ولیکلو، دې لپاره چې خلکو ته وښیئ، چې هغه (در مختار) د امتي فقه ده او دا (نزل الابرار) د نبي صلی الله علیه وسلم فقه ده، د امتي په فقه کې غلطي کېدلی شي خو د نبي علیه السلام په فقه کې د غلطۍ احتمال نشي کېدلی.

ایا وحید الزمان نبي و؟ ځواب کوه کنه (سهیل په غوسه کې ووېل)

نه! (نبي نه و)

نو بیا نزل الابرار ته د نبي فقه ولې وایې؟

ما ته څه پته ده، زه خو هغه وخت نه وم (سکندر ووېل)

واه! ته هلته هم نه وې چې مور او پلار دې پیدا شوي وو، خو ته بیا هم هغوی ته مور او پلار وایې (سهیل ووېل)

خلک وایي چې دا ستا مور او پلار دي (سکندر ووېل)

او خلک وایي چې کتاب وحید الزمان لیکلی دی او پیغمبر ته یې منسوب کړی دی، د دې مطلب خو دا شو چې کتاب وحید الزمان لیکلی دی خو پکې مسایل د پیغمبر علیه السلام دي. (انا لله و انا الیه راجعون) سهیل ووېل، او تا ته پته شته چې دې کتاب کې

وحيد الزمان څه ليکلي دي، اوس ورته غوږ شه.
(۱)- خمر، شراب پاک دي.
(۲)- سړی او ښځه به برېنډ يو بل سره شرمګاه ملا و کړي نو اودس نه ماتېږي.
(۳)- که چا ګوته په دُبُر کې دننه کړه، نو اودس نه ماتېږي.
(۴)- که چا په (قُبُل) يعنې ذکر يا فرج کې لرګی داخل کړو او هغه وچ را بهر شو نو اودس نه ماتېږي.
(۵)- که د وسپنې يا د لرګي (ذکر) دننه غايب شي، نو اودس پرې مات شو.
(٦)- د ښځې د شرمګاه بهرنۍ حصه (فرج خارج) د انسان خولې په شان حکم لري.
(۷)- غسل فرض دی، کله که د پردې انتظام نه وو نو سړي دې د سړو مخکې او ښځې دې د ښځو په مخکې برېنډ غسل وکړي.
(۸)- غير مکلف (نابالغ لېونی) د بالغ يا عاقل سره کوروالی وکړو يا يې په ځان واچولو نو په هغه باندې غسل واجب نه دی.
(۹)- چا د ځناور سره کوروای وکړو، نو غسل نه واجبېږي.
(۱۰)- چا د سړي په دبر کې جماع وکړه نو غسل کول فرض نه دي.
(۱۱)- چا د مړې ښځې سره جماع وکړه نو په دواړو باندې غسل فرض نه دی.
(۱۲)- چا خپل ذکر په خپل دبر کې داخل کړو، نو غسل نه واجبېږي (دا کار به څنګه کېږي، ستا ورور به پرې پوهېږي)
(۱۳)- خنثی مشکل (نر ښځی) د چا سره جماع وکړه نو په

د واړو باندې غسل فرض نه دی.
(۱۴)- قرآن کریم چې کله په غلاف (کپړه) کې وي نو سر لاندې کېښودل یا شاته کېښودل یې مکروه نه دي.
(۱۵)- فلسفې، منطقو او علم کلام کتابونو (پاڼو) سره استنجا کول جایز دي.
(۱۶)- انسان، خنزیر او د هر ژوندي څرمن په رنګ کولو سره پاکېږي.
(۱۷)- د مړو څناورو او خنزیر ویښته، هډوکي، پلې، نوکونه او ښکر ټول پاک دي.
(۱۸)- سپی او د سپي توکانې پاک دي.
(۱۹)- د سپي او خنزیر پاتې شونې اوبه او پی وغیره پاک دي.
(۲۰)- د سپي متیازې او غول پاک دي.
(۲۱)- مني پاکه ده، وچه وي که لمده.
(۲۲)- د استنجاء کولو په وخت کې قبلې طرف ته مخ کول، یا شا کول مکروه نه دي.
(۲۳)- د ښځې د شرمګاه لوند والی پاک دی.
(۲۴)- امام لمونځ ورکړو بیا یې وویل چې زه بې اودسه وم یا په جنابت کې وم یا یې وویل چې زه کافر یم، نو د مقتدیانو لمونځ صحیح دی.
(۲۵)- که څا زر رکعتونه په یو سلام سره وکړل نو جایز دي.
(۲۶)- د نکاح په وخت باجې غږول واجب دي.
سهیل دا ټولې خبرې په یو ځل وکړې، سهیل او د هغه خور په بدو بدو سکندر ته کتل، دا دنبي فقه ده؟؟

وايئ کنه دا د نبي فقه ده؟ په هره مسئله باندې يو صحيح حديث پيش کړئ او که نشئ يې پيش کولی نو د خپل زړه نه فتوی واخلئ چې دا مسلک دی او که د ګندګيو مجموعه ده.

ورور جانه! (سکندر وويل) ددې ټولو مسايلو حديث به درته سبا پيش کوم بيا خو به يې منې کنه، چې د اهل حديثو مسلک حق دی؟

هو منم يې! منم يې! خو نن ولې حديث نه پيش کوې، د خپل عالم نه به تپوس وکړې او د هغه ړوند تقليد به کوې، چې هغه هم ستاسو په نزد شرک دی.

څه ورځه! تاته يوه ورځ نه، بلکې يو کروړ ورځې مهلت دی چې د دې مسايلو ښکاره او صحيح حديث پيش کړه او که پيش دې نکړل، نو بيا د مرګ نه مخکې توبه وکړه په بزرګانو اعتماد نه کول او هغوی ته بد رد ويلو سره ايمان ختمېږي، دې خبرې سره سهيل خپلې کوټې طرف ته روان شو.

(ناوې ورور سره) ته به سبا احاديث راوړې؟

ولې نه! (سکندر وويل)

ګوره چېرته بې عزتي مو ونشي، ځکه چې د هغه سره زموږ د هر سوال ځواب شته خو موږ سره د هغه د يو سوال ځواب هم نشته.

## لسمه شپه

سکندر تلې ووهله خور یې دروازه خلاصه کړه، سکندر دننه راغلو (ناوې ووېل) وروږ جانه سهیل تر اوسه کور ته نه دی راغلی.
ولې؟
پته نشته خو ته وایه چې تا حدیث راوړی دي که نه؟
زموږ علماء کرام وایي چې د دې مسایلو حدیث نشته.
نو بیا؟
بیا څه؟ دومره خبره خو تاته هم معلومه ده چې موږ بې دلیله لګیا یو. (سکندر ووېل)
زموږ دا دعوی چې موږ هر یو کار د حدیث مطابق کوو، دا دروغ دي، حق خبره منل پکار دي، ایا ته به اوس خپل مسلک پرېږدې؟ (ناوې ووېل)
ولې نه! خو د دې مخکې به زه په سهیل داسې حمله کوم چې مخکې تولې خبرې ترې هیرې کړم، سکندر په اعتمادي لهجه کې ووېل.
ته چې څنګه حمله کوې، خو تاته به خوله ماتي ځواب ملاوېږي، (ناوې ووېل)

په دې وخت کې د ګاډي آواز راغلو...
سهیل راغلو (ناوې وویل) او دروازه یې خلاصه کړه، سهیل د ګاډي نه راکوزېد و سره وویل هغه دروغژن غیر مقلد راغلی دی؟
هو جي! (ناوې ځواب ورکړو)
احادیث ي راوړي دي؟
ماته څه پته ده، ته پوهه شه او هغه! ما خو مخکې د دې ګنده مسلک نه توبه کړې ده ما اوس خامخا منځ ته مه راوله.
سهیل کوټې ته داخل شو، سلام یې وکړو او تپوس یې وکړو حدیثونه دې راوړي دي؟
ورور جانه! ورور جانه! دې جملې ویلو سره سکندر چپ شو.
څه ورور جان ورور جان وایې، حدیث راوړه یا دخپل دروغژن کېد و اقرار وکړه.
دا خبره یقیناً صحیح ده چې په دنیا کې صرف دوه ډلې دغه عبادت ګڼي.
(۱)- شیعه ګان، هغه دغو ته تقیه نوم ورکوي، دوی په کتابونو کې لیکل شوي دي "التقیة من دیني و دین ابایي"
(۲)- غیر مقلدین داخپلو دروغو ته د حدیث نوم ورکوي او دا د شیعه ګانو د دروغو نه غټ دروغ دي، دروغ پخپله وایي او لیکي او بیا وایي چې پیغمبر علیه السلام داسې فرمایلي دي. دوی د خدای جل جلاله نه وېره نشته او نه دوی ته د پیغمبر علیه السلام حدیث مبارک یاد دی، من کذب علی متعمداً فلیتبوا مقعده من النار (سکندر وویل)
د سهیل په مخ بانډې خوشالي ښکاره شوه، او دا سوچ یې کولو

چې ښه ده یو بل کس ته هم هدایت ملا و شو.

خو وروړ جانه! (سکندر سخته حمله وکړه) دا چې ستاسو کور کې کوم فضایل اعمال پروت دی، په دې کې بې سنده خبرې، ضعیف روایات او متضاد واقعات دي، غیر شرعي کارونه صحابه وو ته منسوب شوي دي، تاسو ټولې دنیا ته د دې ویلو دعو ورکوئ دې نه خو گمراهي خورېږي، دې خبرې کولو سره سکندر سهیل ته داسې کتل لکه چې په خپله حمله کې کامیاب شو.

سهیل وویل که بل سوال کوې هغه هم اوس وکړه، چې د ټولو په یو ځای ځواب درکړم.

نه وروړ جانه! دا اخري سوال دی.

دې نه وروستو به زه اهل السنت والجماعت کې داخلېږم او یا به ته اهل حدیث جوړېږې.

دروغ مه وایه (سهیل په غوسه کې وویل)

کوم دروغ؟ (سکندر تپوس وکړو)

همدغه چې تاسو ځان ته اهل حدیث وایئ دلیل یو هم تاسو سره نشته، بیا څنگه اهل حدیث یې، بلکې دروغژن یئ تاسو نه صحابه منئ او نه اولیایې کرام..... پرون هم تا ویلي وو که ځواب مې درنکړو، نو مسلک به پرېږدم او نن بیا نوی سوال کوې؟؟ ځواب ستاسو مشرانو ته هم نه ورځي صرف سوال کول ورځي نو دا ځواب به څوک کوي؟

وروړ جانه! غوسه مه کوه که چېرته د خور په شان زه هم په صحیح لاره راغلم نو بیا زموږ ټوله کورنۍ صحیح کول او هغوی ته سمه

لاره ښودل زما د يو لاس کار دی، ځکه چې دوی ټول په دې مسلک (غير مقلدين) ما لګولي دي (سکندر ويل)
(سهيل ويل) دا د قيامت نښې دي، چې يو انسان به پخپله هم ګمراه وي او نور به هم ګمراه کوي، ښځې د سکندر سوالونه يو يو راته وايه چې زه ځواب ورکوم:
(۱)- په فضايل اعمال کې بې سنده خبرې دي، حوالې نشته. (ناوې د سکندر ترجماني وکړه)
الحمد لله! په فضايل اعمال کې يوه خبره هم بې سنده نشته ځکه چې شيخ الحديث په فضايل اعمال کې ليکلي دي: "په دې ځای کې د پوه ضروري خبرې نه خبرول ضروري دي، هغه خبره دا چې ما د احاديثو شريفو په حواله کې.... په مشکوة تنقيح الرواة، مرقات، د احياء العلوم شرحه او د منذري په ترغيب و ترهيب باندې اعتماد کړی دی او اکثر احاديث مې د دې کتابونو نه را خيستي دي، ځکه مې د دې حديثونو د حوالې ورکولو ضرورت ونه ګڼلو او که دې کتابونو نه علاوه مې بل کتاب نه حديث نقل کړی وي، نو د هغه حواله مې نقل کړې ده."
(دا شو فضايل اعمال) خو چې ستا په کور کې کوم صلوة الرسول روت دی، سيالکوټي ليکلی دی، او پيغمبر عليه السلام ته يې منسوب کړی دی، په دې صلوة الرسول کې څومره خبرې د حوالې نه ذکر شوي دي او که څومره خبرو غلطې حوالې ذکر شوي دي؟
کله تا په دې سوچ کړی دی؟
په صلوة الرسول کې د صفحه ۴۴۹ نه تر صفحه ۴۹۶ پورې چې کوم ذکرونه او اعمال ليکلی شوي دي هغه ټول بغير د حوالې نه

دي، بيا سيالکوټي د "نماز کی لا مثال محاسن" عنوان لاندې د فضايلو څلوريشت حديثونه نقل کړي دي او حواله يې د صحاح ستة ورکړې ده خو په دې حديثو شريفو کې ۱۰، ۸، ۷، ۵، ۱، ۲۰، ۱۷، ۱٦، ۱۵، ۱۴، ۱۳، ۱۱، د دې حديثونو څه درک او پته هم په صحاح ستة کې نه لګېږي.

د صلوة الرسول محشي (حاشيه ليکونکی)

دا خبره ښکاره کړې ده، چې په دې کې ۳۴۳، ۳۱۱، ۲۸۳، ۲۷۸، ٦۷۷، ٦۴۷، ٦۴۵، ٦۳۹، ٦۲۰، ۵۷۱، ۵۰۹، ۳۵۸ نمبر حديثونه چې کومو کتابونو طرف ته منسوب شوي دي، په هغو کتابونو کې دا حديث نشته.

اوس ووايه! چې زموږ کتاب بې سنده او بغير د حوالې نه دی که ستاسو؟

سکندر او د هغه خور په خپلو غاښونو پکې ګوتې ورکړې وې او چپ چاپ ناست وو، سهيل وويل چې دويم سوال کوه.

(۲)- په فضايل اعمال کې ضعيف روايات دي (ناوې په ورو اواز سره وويل).

ستا او ستاسو د جاهل مصنف د اعتراض د محدثينو د قانون او اصولو خلاف دی، ځکه چې د محدثينو اصول دي چې په فضايلو کې او په ترغيب و ترهيب کې ضعيف حديثونه قابل قبول دي.

علامه نوي د مسلم شرحه جلد اول صفحه ۲۱ باندې او فتاوی ابن تيميه کې جلد ۱۸ صفحه ۵٦ نه تر صفحه ۸٦ پورې ذکر شوي دي، چې په فضايلو کې ضعيف حديث مقبول دي.

خو تا چېرته د سيالکوټي د صلوة الرسول په حديثونو سوچ کړی

دی چې هغه صرف ثه فضایلو کې نه، بلکې په مسایلو کې هم د ضعیف حدیثونو باران کړی دی او دا خبره د محدثینو د اصولو خلاف ده، ځکه چې په مسایلو کې ضعیف حدیث نشي قبلولی، د صلوة الرسول محشي څلور اتیا حدیثونه په تنبه کړي دي، چې هغه د ضعف اخري درجې ته رسېدلي دي.

دې مکمل تفصیل اورېد و سره سکندر ډېر شرمنده او خپه شو بیا یې وویل، دا خو د هاتي د غاښونو والا خبره شوه، چې د خوړولو لپاره یوه او د ښودلو لپاره بل، سهیل وویل صرف دا نه ده (چې صرف د صلوة الرسول دا حالت دی) بلکې ستاسو د ټولو کتابونو دغه حالت دی، د کومو خلکو نه چې تاسو چنده راوړه او جوماتونه پرې جوړوئ او خلک گمراه کوئ د هغوی د کتابونو هم دغه حالت دی، هم دې ته وایي "دیگران را نصیحت خو میان فضیحت"

اوس ماته یقین وشو چې دا خلک جاهلان او دروغژن دي (سکندر وویل)

اوس د بقایه سوالونو ځوابونه هم واوره ان شاءالله عین الیقین به دې وشي بلکې حق الیقین به هم وشي.

(۳)- ناوې وویل: د هغه متضاد واقعو به څه ځواب وي؟

کومې متضاد واقعې؟ (سهیل وویل)

هغه دا چې حکایات صحابه کې یو ځای لیکلي دي، چې حضرت حنظله رضي الله عنه فرمایي چې کله موږ د خپلې ښځې او بچیانو سره وو نو هغه حالت مو نه وي کوم چې د حضور علیه السلام په مجلس کې وي، بیا خو پاڼې وروستو لیکي، چې د حضرت

حنظله رضي الله عنه نوی واده شوی و او بغیر د غسل نه میدان جهاد ته لاړو او هلته شهید شو.
واه واه! سهیل نعره ولګوله...
جاهل د جاهلانو په شان سوالونه کوي، چېرته کتابونه مو نه دي کتلي ځکه چې عربي تاسو ته درځي نه، مطالعه تاسو نه کوئ او اعتراضونه په موږ باندې کوئ.
واوره! واوره! کېدای شي همدغه ځواب ستا د هدایت سبب جوړ شي.
چې کوم حنظله رضي الله عنه د نفاق وېره ظاهره کړې وه هغه حنظله بن الربیع د رسول الله علیه السلام (کاتب) دی او کوم حنظله چې شهید شوی و او غسیل الملایکه وګرځېدو هغه حنظله بن مالک و، که ډېر تفصیل غواړې نو مرقات اسد الغابه او د الاصابة فی تمییز الصحابه مطالعه وکړه، خو ته دا کتابونه د خپل جهالت له وجې نه نشئ مطالعه کولی.
څه؟ سکندر په حیرانتیا سره تپوس وکړو، دا دواړه واقعې جدا جدا دي؟
هو جي! (سهیل ځواب ورکړو)
توبه توبه (سکندر شروع کړل) الله تعالی دې دا دروغژن تباه او برباد کړي هغوی موږ ته ویلي وو چې د دې اعتراض جواب په ټوله دنیا کې د یو حنفي سره هم نشته، خدای تعالی دې دوی برباد کړي، خدای تعالی دوی هلاک کړي، خدای تعالی دې دوی جهنم ته وغورځوي (سکندر په غوسه کې دا خبرې کولې) سهیل د سکندر په اوږه لاس کېښود او ویې ویل، چې بد دعا (ښېرې)

مه کوه دوی ته، بلکې د دوی د هدایت کوښښ کوه، کېدای شي چاته پکې ستا په شان هدایت په نصیب شي.

نور تپوسونه وکړه (سهیل ویل)

بس ملګریه! بس بقایه اعتراضونه به هم د دوی دروغ وي، دې خبرې کولو سره سکندر اوچت شو سهیل سره یې غاړه ملاو کړه او ویې ویل چې مبارک دې وي ستا سوچ او تصور صحیح ثابت شو ، چې ستا یو بل ملګري ته الله پاک هدایت ورکړو، دې خبرې اورېدو سره د سهیل مخ په پړقېدو شو.

سکندره! (سهیل ویل) اوس ته د تجلیات صفدر او مولانا محمد امین صفدر اکاړوي صاحب دا مجموعه رسایل مطالعه کوه چې تاته د علم لږه څه هوا ولګېږي.

دې کې د ناوې اواز راغلو، چې دې خوشالۍ کې ما اچار، غوښه، شامي کباب او چکن بریاني په میز باندې کېښودل (ډوډۍ ته راشئ) ټول په ډوډۍ کې مصروفه شول.

ناوې د سهیل نه د مطالعې د کتابونو د نومونو تپوس وکړو.

(سهیل ویل) د حضرت مولانا محمد امین صفدر اکاړوي، مولانا محمد سرفراز خان صفدر، مولانا ابوبکر غازي پوري او د حضرت مولانا نور محمد صاحب تونسوي رحمهم الله د کتابونو مطالعه کوئ، الله تعالی به تاسو کامل هدایت په نصیب کړي، دې خبرې اورېدو سره ټولو وخندل....!!!

**تمت بالخیر**

## تاسي کولی لاندي کتابونه د ورکړ شوی لینکونو څخه ښکته ( ډانلوډ ) کړی

| شمیره | کتابونو نوملړ | د ښکته کولو تړونی |
|---|---|---|
| 1 | دخالد بن ولید رضي الله عنه جهادي کارنامي | https://bawar.net/download/index/1567 |
| 2 | نبوي او سپیڅلي ویناوې | https://bawar.net/download/index/1592 |
| 3 | احقاق الحق څلور ټوک | https://bawar.net/download/index/1652 |
| 4 | داسلام ستر اتل امام اعظم ابوحنیفه (رح) | https://bawar.net/download/index/1685 |
| 5 | تفسیر معارف القران لس ټوکه | https://bawar.net/download/index/1847 |
| 6 | لس مشهوري ناروغی √ | https://bawar.net/download/index/1587 |
| 7 | علم النحو پښتو | https://bawar.net/download/index/1922 |
| 8 | دغیر مقلدینو دامام بخاري سره اختلاف | https://bawar.net/download/index/1978 |
| 9 | داسلامي معلوماتو ذخیره پښتو | https://bawar.net/download/index/1979 |
| 10 | دامام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه حیرت انگیز واقعات | https://bawar.net/download/index/1980 |
| 11 | احسن التعبیر في المسئلة الجبر وتقدیر | https://bawar.net/download/index/2034 |
| 12 | د همجنس بازي بربادی او دهغه علاج | https://bawar.net/download/index/2035 |
| 13 | تحقیقات حماسي | https://bawar.net/download/index/2036 |
| 14 | جوامع الکلم څلویښت احادیث مفتي محمد شفیع | https://bawar.net/download/index/2037 |
| 15 | المهند المفند عقاید اهل سنت والجماعت علماء دیوبند | https://bawar.net/download/index/2066 |
| 16 | انسان او شیطان(ناول) | https://bawar.net/download/index/2067 |
| 17 | اتلس ناولي قاتلین جنایي (ناول ) | https://bawar.net/download/index/2068 |
| 18 | تشریحات نابغه | https://bawar.net/download/index/2073 |
| 19 | جنتي ښځه | https://bawar.net/download/index/2077 |
| 20 | د جنت اغزنه لار | https://bawar.net/download/index/2078 |
| 21 | دپیغمبر لمونځ احنافو ته دالی | https://bawar.net/download/index/2084 |
| 22 | تجلیات فردیه پښتو | https://bawar.net/download/index/2085 |
| 23 | بدر الفتو | https://bawar.net/download/index/2086 |
| 24 | دقرباني مسایل احکام ، فضایل،او مسائل مدلل | https://bawar.net/download/index/2087 |
| 25 | دګونتنامو ماتي زولني | https://bawar.net/download/index/2088 |
| 26 | فن الخطابه (دوینا فن) | https://bawar.net/download/index/2089 |
| 27 | نشر الطیب في ذکر النبي الحبیب | https://bawar.net/download/index/2090 |
| 28 | اصول حدیث | https://bawar.net/download/index/2091 |
| 29 | تنبه الغافلین پښتو | https://bawar.net/download/index/2092 |
| 30 | وا مدني یاره نعتیه غورچاڼ | https://bawar.net/download/index/2093 |
| 31 | په یو کلیمي سره د طلاقو واقع کیدل | https://bawar.net/download/index/2096 |
| 32 | ارشاد الطالبین دزادالطالبین شرح پښتو | https://bawar.net/download/index/2097 |
| 33 | البصایر پښتو | https://bawar.net/download/index/2101 |
| 34 | ۱۰۰۰ ذهني پوښتني او ځوابونه | https://bawar.net/download/index/2103 |
| 35 | جامع الوظایف | https://bawar.net/download/index/2104 |
| 36 | داحنافو دلایل | https://bawar.net/download/index/2106 |
| 37 | د کلیساه د پردو ترشاه پټ لاسونه | https://bawar.net/download/index/2107 |
| 38 | د دعوت فنون | https://bawar.net/download/index/2108 |

که د کوم کتاب په ډانلوډ کولو کي ستونزه لري مهرباني وکړي زمونږ سره اړیکه ټینګه کړی.


https://www.facebook.com/Ezatullah.sultanzai
What app: 0093706912702
https://T.me/Ezatullah_sultanzai




ABID PRINTERS > 091-2564366

0306-7616569
0300-9395919

مطبعه
0774343870
0788797941
0300-9395919